ادع الى سبيل ربك بالحكمة والموعظة الحسنة وجادلهم بالتي هي احسن الآية

دعوت

د افغانستان د جماعة الدعوة الى القرآن و السنة د افکارو خپرونکې

د توحید او جهاد مجله

٤٣ گڼه

د افغانستان اسلامي دولت د سولې په لارکې مخکښ نقش اداء کړی دی. (شیخ سمیع الله نجیبي)

کفري طاقتونه نه غواړي په افغانستان کې په جهادي او اسلامي بنسټونو یو اسلامي حکومت جوړ شي. (ډگر جنرال مومند)



بسم الله الرحمن الرحيم

بسم الله الرحمن الرحيم

«قل هذه سبيلي ادعو إلى الله على بصيرة أنا ومن اتبعني وسبحان الله وما أنا من المشركين»
سورة يوسف (١٠٨)

الهی فرمان

قال الله تعالى

«واذكُرُوا إذْ أنْتُم قَليلٌ مُسْتَضْعَفون في الارضِ تَخَافُون أنْ يَتخَطَفَكُم الناسَ فَأواكُمْ و أيّدَكَمْ بِنَصْرِهِ و رَزَقَكُمْ مِنَ الطيّبَتِ لَعَلْكُمْ تَشْكُرُونْ»

(سورة الانفال آية ٢٦)

ترجمه: وياد كنيد اي مهاجرين نعمت الهي را آن وقت كه شما اندك بوديد ناتوان شمرده در زمين يعني در مكه مي ترسيديد زمانكه بربايند شما را مردمان بس جاي داد شما را يعني در مدينه و قوت داد شما را به نصرت خود و روزي داد شما را از چيزهاي پاكيزه تا شود كه سپاسداري كنيد.

د دعوت پیغام

السلام علیکم ورحمة الله و برکاته

اطاعت، تسلیمی، اوربدل، رضا او وفا ته د قربانی روح ویل کیږی. که یو مسلمان په دی فکر او عقیده وی چی د یو حیوان یا څاروی حلالول د ابراهیمی (علیه السلام) سنتو اداء کول دی نو دا یو سطحی فکر دی، مسلمان باید په معنوی ډول د ابراهیم علیه السلام سربښندنی او قربانۍ چی د الله تعالی د توحید پخاطر ئی کړی نظر وکړی. ابراهیم علیه السلام د الله تعالی دین او ټولنه له هر ډول شرك، بدبختۍ او فتنو څخه د ژغورلو پخاطر څومره ستونزی او تکالیف زغملی، څومره نژدی کورنۍ اړیکی ئی د الله تعالی د رضا پخاطر شلولی او د الله تعالی د احکامو اطاعت ته ئی سر ټیټ کړی. په دی لاره کی له بی شمیره حوادثو او ستونزو سره مخ شو مگر په هر حال راضی او صابر ؤ، د نامشروعو معبودانو په ماتولو له یو ډیر لوی چیلنج سره مخ شو، په اور کی وغورځول شو مگر له خپل اصل دریځ څخه یوه لحظه هم منحرف نه شو. دی ته اسلام او دی ته حنفی دین ویل کیږی.

د ذی الحجی د میاشتی په لسمه نیټه چی مسلمانان د قربانۍ کوم سنن اداء کوی دا د هغی قربانۍ او جذبی احیا ده د کومی بنسټ چی ابراهیم علیه السلام ایښی دی.

درنو مسلمانانو ورونو! د اسلامی نړۍ ننني بحرانی حالات، د اسلام غربت، دعوت الی الله او د دین ناتوانی زمونږ څخه د ابراهیمی قربانۍ یاد تازه کول غواړی! د افغانستان د بی شمیره شهیدانو ارمانونه چی په افغانستان کی یو سوچه اسلامی حکومت جوړول دی پوره کول غواړی او دا د هر ډول تنظیمی،ژبنی او سیمه ایزو ناروأ تعصباتو او ذاتی امتیازاتو د محوه کولو قربانۍ ته اړتیا لری. د نفس خواهشات د اسلامی ټولنی د سوکالۍ لپاره پریښودل قربانۍ ته ضرورت لری او وران ویجاړ هیواد بیا آبادول زمونږ او ستاسو مخلصانه ایثار ته سترگی په لاره دی.......!

راځئ! چی د ابراهیمی سنتو اتباع لومړی پخپل ځان تمرین کړو او دغه قربانی یوازی د څاروی په حلالولو کی منحصر نه بلکی په حقیقی معنی کی تعمیل او ترسره کړو.

دعوت

د توحید او جهاد مجله

دامتیاز خاوند : دافغانستان جماعة الدعوة الی القرآن والسنة

مؤسس : شهیدشیخ جمیل الرحمن (رحمه الله)

سرپرست: الشیخ سمیع الله «نجیبي»

اتم کال (٤٣) گنه ١٤١٦ هـ ق شوال/ذي القعدي میاشتي/١٣٧٤ هـ ش د حمل-ثور میاشتی

دې گڼې مطالب

عنوان	مخ
* د رکود او جمود (سرمقاله)	٢
* جنگ په هر شکل	٤
* چرا با هم بجنگیم	٦
* د ابراهیم علیه السلام دقرباني	٩
*فرهنگ اسلامي	١٢
* د ققفاز دسردرو اتل	١٥
* دصحابه ژوند	١٧
* مسلمان ملت او د یهودیت دام	٢١
*غوره ویناوي	٢٤
* ضمیر آواز(شعر)	٢٥
* اسلام ستر فاتح	٢٦
*اسماعلیت څه ته وایی	٣١
* دسرطان علاج	٣٦
* د عالم شاه سره مرکه	٣٩
* د کونړ خلکو د ولایت له مقام سره	٤٢
* د سهوی سجده	٤٤
* مولوی حسن جان سره مرکه	٤٦
* دمالدیپ جزیره	٤٨

PROPERTY OF ACKU S524

دلیکونکو هیئت ترکتنې لاندې

په افغانستان کی د گډون بیه
میاشتنی: ٥٠٠ افغانی
کلني: ٦٠٠٠ افغانی

په پاکستان د گډون بیه
میاشتنی: ١٠ کلداری - کلنی: ١٠٠ کلداری
نور هیوادونه: میاشتنی:٢ امریکائی ډالر
کلنی: ١٠ امریکائی ډالر

په افغانستان او نورو بهرنیو هیوادوکی زمونږ نماینده گان

کابل : قاری عبدالستار
کونړ : عبدالکریم «عبید»
پیښور :لعل محمد «افسوس»
اسلام آباد: سعدالله «احمدی»
لاهور : حماد شاکر
مظفر آباد: بشیر قریشی

سعودی عرب: هدي الرحمن
امریکا : عبدالرحمن احمد
بریطانیا : منور علی
جرمنی : وائی - ایم حمیم
هالیند : عماد الدین بکری اسماعیل

مکاتباتی پته : «دعوت مجله» - پوست بکس نمبر ٦١٤ پشاور پاکستان
بانکی حساب : افغان اسلامي خپري اداره اکاونټ نمبر ١٠٦٣/٧ نیشنل بینک اف پاکستان-صدر روډ - پشاور.

د رکود او جمود حالت ولې نه ختمېږي!

مونږ دا وخت د اسلامي جهاد څلورم پسرلی ته د داخلیدو په حال کې یو په دې دوران کې چې د جهادي اهدافو او اسلامي ارزښتونو خلاف کوم اعمال او افعال سرته رسول شویدي، د هغې د یادوني څخه صرف نظر کوو او یواځې په دې ټکي توقف کوو چې د افغانستان د قضایاؤ په حل او فصل کې ولې په شا روان یو او حالات اوس هم د رکود او جمود په حالت کې دي او زمونږ د لوی او عظیم بري مخه ډپ کړی شوې ده.

همدا اوس که د تیرو څلورو کالو د مرګ ژوبلې او سیاسي نا خوالیو پاڼه راواړولی شي بې د شکه چې په لوړ کچ کتابونه به ورنه جوړ شي خو که د ارزښتونو او مثبتو فعالیتونو اندازه ولګول شي نو د یوې کوچنۍ تجزیې د مطالبو درک پکې نه لږیږي دا ولې؟

دا ځکه چې د اسلامي جهاد اهداف د هماغه پیل څخه له نظره غورځول شوي دي او د وسلو او زور استعمال زمونږ په هیواد داسې مسلط شویدي چې د هیواد انتظامي صورت حال ئې ویجاړ کړی او د امر بالمعروف او نهي عن المنکر عمل ئې په ټپه ودرولی دی. د داخلی جنګونو تاتار او خارجي مداخلو ته زمینه همدې حالاتو برابره کړیده او د جهاد ددوران سالاران په اوسني کړکیچ کې داسې نغښتي دي چې د قرآن او سنتو د حاکمیت زرین اصل ئې د یاده وتلی دی په واحد او مستقل افغانستان کې چې پیړۍ پیړۍ د یو مشرتابه په اصولو چلیدلی دی دجهادی مشرانو د تفرق او تعدد په نتیجه کې په داخلی سطحه اوس په سیاسی او جغرافیاوی لحاظ په خپلو کې ویشل شوی دی اودهر مشر قوماندان او واکمن سیمې، ولایتونه حتی ولسوالۍ معلومې دي چې یوه ډله په بله ډله نشی ورتللی او پخپلو خپلو قلمرونو کې خپل خپل قوانین او ضوابط په چلند کې اچولی دی چې په هیڅ ډول د اسلامي او انساني ارزښتونو او د جهاد د مدعاؤ سره سمون نه خوري. د همدغه بې اتفاقیو او انارشیزم په لړ کې دی چې د تعمیر ځای په کې تخریب نیولی دی او د جهادي لخواکونو د یو والی احساس د ټوپك او کوتك په ضوابطو کې منحصر شوی دی.

څو موده وړاندې دولت د داخلي جنګونو د پای ته رسیدو په مقصد د سوله ایزي کړنلارې په اعلانونو سره داسې امیدونه پیدا شول چې ددولت او مخالفینو تر منځ اختلافات به یوې خواته شي او په هیواد کې به د اسلامي مستحکم نظام بنسټونه کیښودل شي خو د بده مرغه د څو ورځو سوله ایزو تحرکاتو په نتیجه کې بیا هم څرګنده شوه چې ددولت د سولې غږ ته غوږ و نه نیولی شو او ددولت په مقابل کې نظامي ائتلافونو د جوړیدو یو بل دور را منځته شو او د جنګونو د لا تشدید دپاره د بد نه د بدتر حالات مسلط کیږي.

اوس چې د افغانستان لپاره د ملګرو ملتو د خاص استاذي محمود مستیري تګلاره د یو مجرد سیاسي مصروفیت نه پرته بل پیغام نلري او د اسلامي کانفرانس د

سازمان د مسئلي د حل لپاره د افغانانو طمعه غوڅه شویده ایکي یوه لاره پاتی او هغه د افغاني تفاهم او د قرآن او سنتو په رڼا کی خپل منځی جهادي اتحاد او په اسلامي طریقه د قضایاؤ حل دی او بس.

ترکومه ځایه چی د افغان مسئلي د بهرنیو عبادو سوال دی نو پدی کی هیڅ شك نشته چی دی فعالی مداخلی ته زمونږ افغانانو له خپله لاسه زمینه برابر کړیده او هغه متل ئی د یاده وتلی چی لاس مات شی غاړی ته ځی.

دا چی مونږ د خپلو مسئلو د حل په لار کی یو بل سره د ټویك په خوله خبری کوو په خوله د اسلامي حکومت د استحکام چیغي وهو خو په عمل کی بیا مرگ ژوبله، تخریب او تخویف زمونږ د ټولني هغه پیداوار دی چی د نړی‌خبری آژانسونه او راډیوگاني وریاندی شخوند وهي او داسی تبلیغات کوي چی گویا مجاهدینو د گډ اسلامي حکومت د جوړیدو قابلیت د لاسه ورکړی دی.

تر یو اندازي پوری اسلامي هیوادونه او نړی په دی لړ کی حق په جانب هم دی ځکه چی د جهاد ددومره لوی بری او فتحي نه وروسته بیا هم جهادی مشرانو یو بل ته کمین نیولی دی او نه غواړی یو بل سره د اسلامي اخوت د اصل له مخي او د افغاني روایاتو مطابق په یو دسترخوان را ټول شی او د خپل مات شوی لاس د تداوی لپاره په خپلو کی جرگه شی.

د حالاتو د سیاسی تحلیل په رڼا کی چی دولت دا وخت کوم انعطاف منلی دی او مخالفینو ته ئی د افغاني تفاهم ټولی دروازی خلاصي کړیدي کولی شي چی خبری په خبرو سره حل کړای شي خو چی سړی بیا هم ددولت ځینو مخالفینو د مخالفتونو د شدت جاج واخلی چی اوس هم د نظامي ائتلافونو د پراخو مخاني جبهي خبری کوی نتیجه دا هم بیا راووځي چی دا وړی‌ نه شړی‌ کیږی او جنگونه د افغانانو لپاره د ورځی د مضمون په حیث گرځولی دی او تر ډیره وخته باید صبر او حوصلی نه کار واخلی.

مخالفین د پخوا پشان په مجدد ډول د قدرت په انتقال پوری نښتی او د یو معقول او مطلوب میکانیزم لپاره کار هیڅ نه کیږی. د بله طرفه خارجي مداخت دومره اوج ته رسیدلی دی چی په جنگ کی د ښکیلو ډلو د اکمالاتو په سر د علني سیالی میدان ته راوتلی دی او د چا خبره د هری ډلی او ډلگی‌ دروازی ټکوی. زمونږ مشران او مطرح شخصیتونه پدی خبره ښه پوهیږی چی کورنیو او بهرنیو دښمنانو په جنگ اچولی دی او په ځرگنده پدی باندی اقرار هم کوی خو چی د مشکلاتو د خلاصو او په افغاني تفاهم باندي د مسئلی د حل وړاندیز ورته وشی په غیر ارادي توگه او د عادت د مخي وسلی ته لاس ورتیروی او د مداخلی نه د خلاصون چل نه ورځي.تر کومه حده چی د جماعت الدعوت موقف دی مونږ تل د اسلامي اخوت د ټینگولو، د بین الافغاني تفاهم غږ پورته کړیدی او ددی ټولو نا خوالیو اصلی عامل د قرآن او سنتو څخه لیري والی گڼو او یواځیني علاج په کتاب الله او د سنت رسول صلی الله علیه وسلم په احکامو تمسك دی او بس.

مونږ تل داخلی جگړی چی په هر عنوان دی رد کړي او ټولو اطرافو ته مو توصیه کړیده چی ځانځانی، قدرت طلبي او د سلطي فکر پریږدئ او ددی مظلوم مسلمان ملت غمخوری او بالآخره خپل جنجالونه چی پردیو ته ئی د مداخلي لاره پرانستی ده پخپله حل و فصل کړئ.

د الله تعالی د هغه نعمتونو د جهاد او قربانیو په نتیجه کی ور په برخه کړی قدردانی وکړی الله تعالی فرمایی «ولئن شکرتم لأزیدنکم و لئن کفرتم إن عذابي لشدید) (الآیه) په بل صورت کی د الله تعالی گرفت نور هم سخت دی نو راځئ چی د الله تعالی په نعمتونو وياړ او شکر وباسو او د وروری‌غاړی ورکړو او د یو اسلامي حکومت د جوړیدو او د هیواد د بیا رغونی لپاره مټی را ونغاړو.

مولوي سميع الله «نجيبي» وويل:

جنگ په هر شکل کي محکوم او مردود دي.

جهادي هدفونه دا غواړي چي يو متفق عليه اسلامي قيادت رامينځ ته کړو.

دولت دا ايجابوي چي د سولي اسلامي تگ لاري ته ترجيح ورکړي.

ملگري ملتونه او اسلامي کانفرانس د سولي په راوستو کي پاتي راغلي دي.

د روان کال د حمل د مياشتی په اولسمه نيټه د افغانستان د اسلامی دولت په مرکز کابل کی د تنظيم طلبه سلفيه تر اهتمام لاندی يوه درنده غونډه جوړه شوه تر څو د توحيد د عقيدی د خپرولو لپاره د کابل ښار په ټولو ناحيو کی دعوتی حلقی جوړی کړی او په دغه ډول د دعوت الی الله او الی الرسول سلسله شروع کړی.

دغی پرتمينی غونډی ته د نورو نه برسيره د جماعة الدعوة الی القران والسنة امير مولوی سميع الله «نجيبی»، د تنظيم طلبه امير عبدالکريم «عبيد» ، حاجی محمد روزی، مولوی فضل الدين «بدخشانی»، مولوی محمدقاسم، مولوی عبدالهادی او قاری عبدالستار ارزښتناکی ويناوی وکړی او د دعوت الی الله او الی الرسول په اهميت ئی رڼا واچوله.

د جماعة الدعوة امير د افغانستان روانو حالاتو ته اشاره وکړه او وئی ويل:

اوسنی سوله ايز تحرکات چی د ټولو نه مخکی اسلامی دولت په دی لاره کی مخکښ نقش اداء کړی دي دا ايجابوی چی ټول مشران،قوماندانان او کشران د جنگ په ځای د سولی اسلامی تگ لاری ته ترجيح ورکړی او د تيرو څلورو کالو د جنگ د ترخو تجربو نه سبق واخلی. ده وويل جنگ چی په هرشکل سره وی د اسلام او اسلامی امت له خوا محکوم او مردود دی. زمونږ جهادی هدفونه دا غواړی چی متفق عليه اسلامی قيادت رامينځ ته کړو او د دی لاری څخه د خپلو

مسلمانو او مصیبت ځپلو خلکو خدمت وکړو.

شیخ سمیع الله زیاته کړه چی **جماعة الدعوت د ځوارلسو کالو د جهاد او د تیرو څلورو کالو د ازادۍ په دوران کی د قران او سنت د حاکمیت د پاره کومی هلی ځلی کړی دی هغه د هیچا نه پټی نه دی او مونږ په دی لاره ثابت قدمه یو.**

ده وویل جماعة الدعوة په دی اسلامی مبارزه کی د دولتی عهدو د نیولو د پاره هیڅ وخت مطالبه نه ده کړی او د دی جماعة هر اقدام خاص د دعوت الی الله و الرسول د پاره دی. ده زیاته کړه زمونږ د جهاد اهداف ښیخی روښانه او مشخص دی او هغه صرف او صرف په هیواد کی د اسلامی نظام د قیام او اسلامی قیادت سره خلکو ته د خدمت کولو هڅی دی.

شیخ سمیع الله وویل خارجی مداخلت زمونږ په هیواد کی خپل وروستي معراج ته رسیدلی دی او ملګری ملتونه او اسلامی کانفرانس هم د سولی په راوستو کی پاتی راغلی دی. ده وویل یوازی افغانان او افغانی مشران کولی شی چی د افغانی تفاهم د لاری څلور کلني خونړۍ لانجی حل کړی او د منځګړو کردار ته پکی ضرورت ونه لیدل شی. ده وویل داسی نښنی نښانی څرګندی شوی دی چی د جهادی تنظیمونو د پیوستون د پاره زمینه مساعده شوی ده خو په دی شرط چی د ځان غوښتنی او قدرت غوښتنی په اصل د بطلان کرښه راښکودل شی.ده زیاته کړه د اسلامی دولت مسئولین د زړه له کومی غواړی چی د ټولو په اتفاق یو اسلامی قیادت وټاکل شی او اوسنۍ نزاع پائی ته ورسول شی خو د یو لاس نه ټک نه خیژی او په دی لاره کی د ټولو ګوندونو د نظر یو والی او هم اهنګۍ ته سخت ضروت لیدل کیږی.ده وویل چی په افغانستان کی د داخلی جنګونو د ختمولو د پاره ډیره غوره لار بین الافغانی تفاهم دی او اوس دغسی یو تفاهم ته هم په ټول هیواد کی د تحقق ورکولو لاره پرانستل شوی ده او باور دی چی جاری کال به د سولی یو زیری افغانانو ته ورکړی.

په آخر کی هغه د تنظیم طلبه سلفیه د کارکردګۍ ستاینه وکړه او سلفی ځوانان ئی خپلو مسئولیتونو ته متوجه کړل.

د ازبکستان د مجاهدینو نماینده محترم مولوی قاسم پخپله وینا کی د افغانستان په روانو حالاتو د خفګان څرګندونه وکړه او د افغانی مشرانو څخه ئی د یووالی او اتحاد غوښتنه وکړه او وئی ویل د نړۍ محکومو مسلمانانو د افغانانو د شجاعت او میړانی نه عبرت واخیست او د افغانستان د جهاد په برکت ئی د کمونیستی نظام ځنځیرونه وشلول خو ډیر د افسوس ځای دی چی اوس افغانان خپل روښانه او د کارنامو نه ډك تاریخ په خپله د پښو لاندی کوی او د اسلام دښمنانو ته د دی موقع برابر وی چی د مسلمانانو په لیکو کی لاری پیدا کړی.

ښاغلی عبدالکریم «عبید» وویل: تنظیم طلبه سلفیه په کابل،جلال-آباد،کنړ او پیښور کی دعوتی مرکزونه لری او په دغه لار کی د سلفی ځوانانو فعالیتونه د ستاینی وړ دی، همدا رنګه مونږ اراده لرو چی د دعوة دغه مرکزونه د افغانستان نورو ولایاتو ته هم منتقل کړو، ترڅو خلك د قرآن او سنت په سپیڅلی عقیدی باندی په ښه توګه پوهه کړی شو.

ooo

چرا باهم بجنگیم؟

نویسنده سنیه ریتا عزیز

افغانستان کشوریست که در قلب آسیا قرار داشته و مملکتی است کوهستانی که از زمنه های قدیم بنا بر موقعیت خاص جغرافیاوی که دارد چشم طمع همه ممالك جهان بطرف آن دوخته شده است.

چنانچه بارها انگلیسي ها برای تصرف این مملکت کوچك و زیبا لشکر کشی های بیشماری نمودند ولی غیرت، شهامت، دلیری، مردانگی وفداکاری های باشندگان این سرزمین، آنها را هر بار شکست میداد و بعد از جنگ سوم افغان و انگلیس دیگر انگلیس ها جرأت نگاه بطرف ملك غیرتمندان را پیدا نکردند و آرزوی تصرف افغانستان افغان های با شهامت را دردل دفن نمودند و برای سالیان متمادی صلح و آرامی در کشور زیبای افغانستان برقرار گردید. ولی با گذشت زمان روس ها تاریخ با شهامت افغان ها را فراموش کرده و در فکر تُصرف افغانستان شدند و افغانستان صلح دوست و آرام را بمیدان جنگ و ماتمسرا مبدل گردانیدند. که قیام سر تاسری فرزندان محمود غزنوی احمد شاه ابدالی باهمان غیرت و شهامت بارث مانده ازنیاکان خویش این تجاوزگران وحشي و بیرحم را که از شکست ابر قدرت دیروز (انگلیس) درس عبرت نگرفته بودند به زبونی وخجالت و سرافگندگی مواجه ساخته و کشوری مرد پرور خویش را از لوث منحوس استعمار این تجاوزگران وحشي پاك کردند و با ایثار خون بیش از پانزده لك نفریکبار دیگر افغانستان عزیز را مثال قهرمانی و شهامت گردانیدند. با اخراج قشون خون آشام شوروی ملحد از وطن همه هموطنان ما چه در داخل و چه در سرزمین های هجرت جشن های خوشی و شادماني جهت آزادی ملك خویش از چنگال روس های ددمنش بر پانمودند ختم های تلاوت قرآنکریم نمودند که شکر بفضل و مهربانی خداوند توانا از بي وطنی و سرگرداني ها در ملك های بیگانه نجات یافتیم وهمه مردم افغان در هر ملکی که قرار داشتند (اقامت گزیده بوند) خواب بر گشت به وطن عزیز خویشرا میدیدند ولی افسوس که بر گشت شان به کشور آزاد و برامن شان محض یك خواب بود وبس زیرا با اخراج روس ها از افغانستان توسط افغانهای غیور تاریخ معاصر افغانستان رخ دیگر به خود گرفت زیرا در جریان جنگ افغانها با روس ها امریکا و دیگر ممالك که فکر گرفتن ابر قدرتي را از روس ها داشتند مردم افغانستان را هر نوع کمك مالی مینمودند ولی این کمك ها بشکل کتلوی و دسته جمعي نبوده بلکه به شکل منفرد وجداگانه بود نخواستند و نمی خواهند که افغانها با هم اتحاد نموده و به شکل یك گروپ مستحکم و متحد

در آیند. زیرا اتحاد گروپ های اسلامي وجهادي افغانستان خو یك محرکی قوی آزادی و رهائی از استعمار بوده که قبول و پذیرش آن بر استعمارگران جهانخوار گران و سنگین تمام شده است بنا بر ان تاتوانستند و یا بتوانند از اتحاد همبستگی شیر مردان افغان هم فیمابین خود شان وهم با سایر برادران مسلمانیکه بغرض قیام و استقرار

غرض آزادی وطن و حراست دین و ناموس صورت یافته بود ودر آن منظور گرفتن قدرت و کرسی و دنیاوی نبوده بلکه استقرار و دوام دین و آئین خدا در افغانستان به حساب میرفت نادیده گرفته که با این نا عاقبت اندیشي نه تنها روح و روان آنرا مردان فدا کار و مجاهد و مسلمان را ناشاد

اسلامي نمیخواهیم.

برادران محترم! لطفاً برای کرم یکبار به فکر امر خدای متعال شوید که میفرماید:

(واعتصموا بحبل الله جمیعاً ولا تفرقوا) یعنی چنگ بزنید به ریسمان دین خدا همه تان و متفرق نشوید. آیا انکار و سرکشي از امر خدا مسلماني

برادران محترم! لطفاً برای کرم یکبار به فکر امر خدای متعال شوید که میفرماید: (واعتصموا بحبل الله جمیعاً ولا تفرقوا) یعنی چنگ بزنید به ریسمان دین خدا همه تان و متفرق نشوید. آیا انکار و سرکشي از امر خدا مسلماني است؟ یکبار به آواره گی و بیچارگی ملت تان نگاه کنید تا به کی مردم افغان دست گدائی در ملک های کافر بیگانه و خدا ناشناس دراز نمایند؟

حکومت های اسلامي در پیکار و مبارزه هستند جلوگیری خواهند کرد. برای رسیدن به این مامول شیوه تفرقه اندازی وکشت تخم نفاق وعداوت را که درتشدید جنگ های برادر کشي در سرزمین های به خصوص مسلمان نشین و مبارز موثر است به کار بردند از همه اولتر بدبختانه این شیوه وکشته شان در سر زمین ما افغان ها بنا برغفلت ما زودتر کار گر وبارورگشت. همه بجان هم افتادیم و همه جانثاری- های دوازده ساله میلیون ها هم وطني سر به کف خویش را که جهت خارج نمودن ارتش سرخ ملحد و سفاك روس و آوردن صلح و امن در میهن بود وبه

گردانیدیم بلکه با نام جهاد اسلامي و ملحد شکن بیباکانه و ناعاقبت اندیشانه بازی نمودیم.

بالآخره گپ بجای رسید که مبارزات استقرار حکومت اسلامي در سایر ممالك کنون بنا بر آنچه در افغانستان در جریان است به رکود مواجه شده و به مساعي داعیان آن مردم شان اعتنای نمي کنند و یا تعجب تمسخر آمیز میپرسند که آیا حکومت اسلامي به مثل حکومت اسلامي افغانستان را میخواهد که در وطن روی کار آرید؟ اگر هدف شما از چنان حکومت اسلامي است پس ما حکومت

است؟ یکبار به آواره گی و بیچارگی ملت تان نگاه کنید تا به کی مردم افغان دست گدائی در ملك های کافر بیگانه و خدا ناشناس دراز نمایند؟ تا به کی در کشور های بیگانگان برای کرایه خانه قیمت هنگفتی بپردازند و خانه و کاشانه خود را از هراس وترس جنگ های بي مفهوم و بیرحمانه شما برادران مجاهد خویش ترك نمایند تا به کی نوکر بیگانگان بوده و به ملك خویش کوچکترین خدمتی انجام داده نتوانند و بالآخره تا به کی از آغوش پرمحبت مادر وطن خویش بدور مانند؟

باری توجه به حال ملت بیچاره تان

کنید وخود را در میزان عدالت وجدان تان قرار دهید در زمره هزاران سوالی که برایتان پیدا میشود یك سوالی هم این خواهد بود که چرا باید باهم جنگ کرد؟ آیا جنگ ما کدام منفعت غیر از خساره برای ما هم شهریان ما بار خواهد آورد؟

و آیا در جریان جنگ ما خساره های که به وطن و مردم رسیده و میرسد تلافي و جبران آن آسان خواهد بود؟ چه کسی یارویا ور ما خواهد گردید. همه ممالك که در جریان جنگ با شوق و علاقه زیادی با ما همکاری و کمك می نمودند امروز از جنگ ماخسته شده و ما را به نظر نفرت می بینند چنانچه در این اواخر موضوع پناهندگی ما در ممالك شان زیر سوال است که اگر وضع موجوده ما تا چند سال دیگر به همین منوال جریان یابد و باقي ماند. جهانیان افغانستان ما را ناتوان و در مانده یافته ووطن محبوب ما را تجزیه و تقسیم خواهند کرد ونام افغانستان را از نقشه دنیا بر خواهند داشت آنوقت دیگر نام و نشان از افغانستان بجا نخواهد ماند وپشیمانی و ندامت ما از بدست آوردن کرسی وقدرت سودی نخواهد داشت از همه مهمتر اینکه در روز محشر چگونه بدرگاه خدا جهت حساب و کتاب اعمال خویش حاضر خواهم گشت!

روز قیامت که بود داوری عذر بیآور که چه عذر آوری.

باید دانست که رهبران وپیشوایان جامعه اسلامي مسؤلیت های زیادی در برابر وطن وهموطنان خویش داشته ودارند چنانچه ابوبکر صدیق رضي الله عنه، حضرت عمر فاروق رضي الله عنه و غیره پیشوایان مسلمان هر شب گاه و بیگاه از حال و احوال مردم خویش با خبری می نمودند، تا اینکه گرسنه اي بدون صرف غذا و بدون نوشیدن آب نماند و فقیری بدون بستر خواب نه خوابد ولی ما که لحظه در فکری هموطنان خویش نیستیم و فقط توجه به حال خود و فامیل خود اشته ایم تا خوب بخوریم خوب بنوشیم و آرام و آسوده بخوابیم وهم فرزندان و اخلاف مادر ممالك مترقي جهان تعلیم و تحصیل کنند و غافل از آنکه همه اولاد هموطن را از نعمت تحصیل در وطن و سر زمین هجرت یا محروم ساخته ایم و یا مجبور نموده ایم که در مکابت شخصي و خصوصي که به غرض منفعت چند نفری باز گردیده نه رسمیت دارند و نه اسناد وشهادتنامه آنرا کسي میخواند و نه به رسمیت مي شناسد تحصیل بي حاصل کنند.

پس بفرمائید و بگوئید که در آنروز یك روز حساب یك یك از اعمال ما بدرگاه الهي است چي عذری خواهیم داشت و از جزای اعمال کنونی خویش به کجا فرار خواهیم کرد؟ نه قصریکه در امریکا و فرانسه و دیگر قسمت های دنیا خارج از وطن از حاصل جهاد گرفته ایم بدرد ما می خورد ونه آن ارگ کنون در ودیوار ریخته کابل.

برادران محترم هموطنان سرشار از باده مستی! هنوز هم وقت است قبل از آنکه فرصت از دست داده شود یکبار به هموطنان بی چاره و آواره و مصیبت زده تان که در کوچه های بیگانگان و در دشت ها یسوزان بی آب و غذا زندگی محقرانه بسر میبرند و دست تنگدستی بسوی هر کس و ناکس دراز می کنند گوش فرا دهید که میگویند: به کشت و کشتکار و جنگ وجدال بی مفهوم برادر کشي که نتیجه آن جز بربادی و نابودی هست و نیست ماست خاتمه دهید و بروطن و مردم تان ترحم کنید وبا اتحاد و همبستگی، بیگانگان را مجال مداخله و دست درازی در امور مربوط به وطن خویش ندهید.

از رب العالمین وحدت و همبستگی و اتفاق تانرا خواسته و دعاء میکنم که ماهمه را براه راست هدایت فرماید.

آمین.

د حضرت ابراهیم علیه السلام د قربانی یاد ګار

ترتیب او ترجمه: أبا عبید

حضرت ابراهیم علیه السلام د بابل په سیمه کی زیږیدلی، د مور نوم ئی امیله او د پلار نوم ئی «تارخ» چی لقب ئی «آزر» او د سام بن نوح له لمسیانو څخه ؤ.

د هغه د کورنی غړو به بتان جوړول، هغه به ئی په بازار کی پلورل او په خپله به ئی هم د دغو بتانو عبادت او پرستش کولو.

بل خوا حضرت ابراهیم علیه السلام د یو حقیقی رب په لټه کی ؤ، چی شپه به شوه او آسمان به په ستورو ښایسته شو نو ابراهیم علیه السلام به ویل هغه دی زما رب، چی سپوږمی ته به زیر شو نو وبه یی ویل هغه دی زما رب. چی لمر به خپلی زرینی وړانگی د بابل په ښار خپری کړی نو ابراهیم علیه السلام به وویل هغه دی زما رب او دا زما تر ټولو نه لوی رب دی. خو چی کله به هغه هم د خپل معمول سره سم پناه شو نو وبه ئی ویل نه زما رب هغه دی چی دا هر څه ئی پیدا کړی او هغه د دی ټولو کائناتو حقیقی رب دی او بیا به ئی خلك د یو واحد رب په لور رابلل. په دغه باب الله تعالی فرمائی:

«إذ قال لأبيه يابت لم تعبد ما لايسمع و لا يبصرو لا يغنى عنك شيأ» (سورة مريم ـ ٤٢)

ترجمه: کله چی وویل (ابراهیم) خپل پلار ته ای پلاره! د څه د پاره عبادت کوی ته د هغه څیز چی نه اوری او نه وینی او نه دفع کولی شی له تا نه د هیڅ څیز.

حضرت ابراهیم علیه السلام خپل پلارته وویل: ای پلاره! ولی د داسی څیز په عبادت خپل وخت ضایع کوی چی هغه نه د اوریدلو، نه د ویلو او نه د لیدلو صلاحیت لری او نه ستا پکار راتلای شی؟

ای زما پلاره! زما سره داسی علم دی چی هغه ستا سره نشته. ته زما پیروی شروع کړه چی په سمه او مستقیمه لار روان شی.

ای زما پلاره! د شیطان عبادت مه کوه، ځکه شیطان د الله ښکاره دښمن دی.

پلار ئی ځواب ورکړ: ای ابراهیمه! ته زمونږ د خدایانو څخه انکار کوی، که ته د خپلی دغی عقیدی څخه راونه ګرځیدی نو مونږ به تا سنگسار کړو.

کله چی حضرت ابراهیم علیه السلام خپل قوم پریښود او د خپل مقصد د حصول په لټه کی شو نو ټول قوم ئی دښمن شو او د هغه سره ئی د جنگ جگړی لاره اختیار کړه.

خو حضرت ابراهیم علیه السلام ورته وویل چی زه ستاسو له دښمنی څخه هیڅ ویره نه لرم او دغه بتان ما ته هیڅ نقصان نه شی رارسولی.

یوه ورځ د ښار ټول اوسیدونکی د اختر د میلی لپاره لاړل، حضرت ابراهیم علیه السلام له هغوی نه د مریضی په بهانه ځان پاتی کړ.

ابراهیم علیه السلام غلی د دغو بتانو څنگ ته ورغی او د ملنډی او ریشخنده ئی ورته وویل: ستاسو په مخکی خو ډیر زیات ښایسته خوراکونه ایښودی شوی دی تاسو ئی خوری ولی نه او ولی خاموشه او غلی ناست ئی؟

بیا ئی د بتانو په ماتولو شروع وکړه

او په اخر کی ئی تبر راوخیست او د لوی بت په غاړه کی ئی واچوه(قصص النبین اوله برخه)

کله چی خلك له میلی څخه راوګرځیدل او د خپلو بتانو حالات ئی ولیدل نو وئی ویل: دا شرارت ضرور د هغه هلك دی چی ابراهیم نومیږی. بیائی هغه د ټولو په وړاندی راوست او پوښتنه ئی تری وکړه: آیا دا کار تا کړی؟

ابراهیم علیه السلام ځواب ورکړ: دغه پوښتنه د دغه بت نه وکړی چی تبر ئی په غاړه دی.

ټول خاموشه او لاځوابه پاتی شول. بیا ئی ویل: ای ابراهیم! ته په خپله ښه پوهیږی چی هغه خبری نه شی کولی.

نو ابراهیم علیه السلام ورته وویل: په تاسو دی لعنت وی چی د داسی بتانو پرستش او عبادت کوی چی هغه نه چا ته نفع او خیر رسولی شی او نه نقصان.

د ابراهیم علیه السلام په دی خبره ټول مشرکین په قهر شول او وئی ویل: ابراهیم اور ته ګذار کړی.

الله تعالی اور ته امر وکړ چی «قلنا یا نار کونی برداً او سلاماً علی ابراهیم»(الانبیآ-٦٩)

ترجمه:وویل مونږ ای اوره! یخ شه او خاوند د سلامتیا په ابراهیم باندی.

اور ته امر وشو چی په ابراهیم علیه السلام یخ شه مګر دومره یخ مه شه چی له ډیری یخنی هغه ته تکلیف ورسیږی بلکه داسی برابر او معتدل شه چی د هغه ځان ښه په راحت شی.

په لاره کی یو بل امتحان:

کله چی ابراهیم علیه السلام مصر ته لاړ نو حضرت ساره (رضی الله عنها) هم ورسره وه. د مصر بادشاه یو ظالم او جابر انسان ؤ. د کومی حسینی او ښایسته جینی په هکله به چی خبر شو نو فوراً به ئی خپل ځان ته رابلله. دا چی الله تعالی حضرت ساره (رضی الله عنها)ته هم زیات حسن بخښلی ؤ او بادشاه ته خبر ورسید چی ښار ته یوه حسینه اجنبی جینی راغلی نو فوراً ئی کسان ورواستول او ابراهیم علیه السلام او د هغه میرمن ئی راوستل.

د حضرت ابراهیم علیه السلام نه ئی پوښتنه وکړه: دا جینی دی څه ده؟

که چیری حضرت ابراهیم علیه السلام ویلی وائی چی دا می میرمن ده نو د ساره رضی الله عنها د حاصلولو لپاره یی فوراً هغه واژه. نو ځواب ئی ورکړ. دا می خورده.

حضرت ساره رضی الله عنها د دغه ظالم بادشاه د ظلم نه د خلاصون په غرض اودس وکړ او په لمانځه ودریده.

بادشاه د هغی بدن ته لاس نږدی کړنو د الله تعالی په حکم د بادشاه لاس فلج شو.

فوراً حضرت ساره (رضی الله عنها) ته په زاری شو چی الله تعالی نه زما د بیا صحت سوال وکړه. زه به بیا داسی ګناه نه کوم.

حضرت ساره (رضی الله عنها) الله تعالی ته سوال وکړ چی دا روغ کړی ځکه که چیری دا مړ شو خلك به بیا ما د ده په قتل کی ونیسی.

دحضرت ابراهیم علیه السلام ځوی:

د حضرت هاجری (رضی الله عنها)څخه چی حضرت اسماعیل علیه السلام پیدا شو نو پدغه وخت کی د حضرت ابراهیم علیه السلام عمر ۸٦ کالو ته رسیده.مکی ته د حضرت ابراهیم علیه السلام د راتلو نه وړاندی هلته نه ښار ؤ او نه څه آبادی، مګر د بابل اکثره اوسیدونکی به په عرضی توګه هلته اوسیدل.

حضرت ابراهیم علیه السلام د الله تعالی په امر حضرت هاجره (رضی الله عنها)د خپل ماشوم بچی سره کعبی ته نږدی چی اوس پکی د زمزم د اوبو چینه ده بی خوراکه اوڅښاکه پریښودل او صرف لږ شان خرما او لږی اوبه ئی ورله ورکړی او پخپله د «ثانیه» غره ته لاړ.

دواړه لاسونه ئی د الله تعالی په حضورکی اوچت کړل او دا دعا ئی وکړه.

«ربنا إنی أسکنت من ذریتی بواد غیر ذی زرع عند بیتك المحرم ربنا لیقیموا الصلوة فاجعل افئدة من الناس تهوی إلیهم وارزقهم من الثمرات لعلهم یشکرون» (سورة ابراهیم-۳۷)

ترجمه:ای الله! ما خپل اولاد بغیر د څښاکه او خوراکه په دی میره کی د بیت الحرام په څنګ کی پریښودل، تر څو هغوی لمونځ قایم کړی، ته د خلکو زړونه د هغوی په طرف مایل کړه او دی ته ښه روزی ورکوه تر څو دوی ستا شکر ګزار شی.

ابراهیم علیه السلام به هم د هغوی پوښتنې له راتللو.

د حضرت اسماعیل علیه السلام قرباني کول:

حضرت اسماعیل علیه السلام چې لوی شو نو ابراهیم علیه السلام خوب ولید چې زه خپل ځوی قرباني کوم او دا خوب ئې څو ځل ولید.د نبي خوب رښتیا وي. خپل ځوی ئې د منیٰ میدان ته راوست، په مرې یې ورته چاړه کیښوده چې پدې دوران کې د جنت نه یو وری د الله تعالی په حکم راولیږل شو او د هغه په ځای قرباني کړی شو او دا آواز وشو چې «قد صدقت الرؤیا إنا کذالك نجزی المحسنین» (سورة صافات-۱۰۵)

تا خپل خوب رښتیا کړ! او قبوله مې کړه دغه قرباني ستا! زمونږ مقصود خو ستا د ځوی د حلالولو نه دی او صرف ستا ازموینه او امتحان مو منظوروُ چې ته په هغه کې پوره بریالی او کامیاب ووتې.

په محمدي شریعت کې قرباني کول سنت ده:

د حضرت ابراهیم علیه السلام دغه عمل د الله تعالی ډیر زیات خوښ شو او د هغه دغه عمل ئې د ژوندي ساتلو لپاره په محمدي شریعت کې د یو سنت په توګه فرض کړ.بل خوا حضرت اسماعیل علیه السلام د تندی له وجې بې حاله ؤ او بیبي هاجرې رضی الله عنها د اوبو په لټه کې د صفا او مروه د غونډیو تر منځ منډې ترې وهلې.

الله تعالی د فرښتې په ذریعه د زمزم د اوبو چینه راښکاره کړه.

د بی بی هاجرې رضی الله عنها دغه منډې د الله تعالی خوښې شوې او د حج او عمرې په دوران کې ئې ضروري اوبللې.

د اختر قرباني:

قرباني د حضرت ابراهیم علیه السلام د هغې واقعې یوه نخښه ده چې په هغې کې حضرت ابراهیم علیه السلام د الله تعالی د حکم په مقابل کې د خپل ځګر هغه ټکړه چې په ډیر نیاز او ناز ئې ساتلې وه د الله تعالی حضور ته وړاندې کړه او دا ئې ثابته کړه چې زما ټول ژوند،مرګ او ټول عبادات د الله تعالی د رضا د حصول لپاره دي او بس.

نو مونږ او تاسې ته هم پکار ده چې د قرباني په دوران کې د ډیر احتیاط نه کار واخلو او د قرباني په اهمیت ځان پوهه کړو، ځکه اکثره خلك د قرباني څاروي په صحیح طریقه نه پالي. په کلیو او بانډو کې څاروي په پردیو پټو او فصلونو کې څر کوي او د دغې حرامې ګیا انرجي د څاروي په وینه او غوښه کې چلند کوي چې په دغه ډول ټول څاروي حرامیږي.

د بعضو خلکو د پیسو مدرك هم له حلالو لارو څخه نه وي په تیره بیا سود خو د ډیرو مسلمانانو حلالې پیسې حرامې کړیدي.

همدارنګه په تجارت او راکړه ورکړه کې هم خلك د حرامو او حلالو خاص خیال نه ساتي. زمونږ مقصد دا دی چې په قرباني کې باید د ډیر احتیاط نه کار واخستل شي او د قرباني څاروي باید د هر ډول حرامو څخه پاك او حلال وي، ځکه الله تعالی حلال ځیزونه خوښوي نه حرام.

الله تعالی په قرباني کې د خپل بنده نیت ته ګوري، د غوښو، وینو او هډوکو سره د الله تعالی هیڅ کار نه وي.

د قربانی فضیلت:

صحابه کرامو رضی الله عنهما د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه پوښتنه وکړه چې قرباني څه ته وائي؟

هغه و فرمایل:دا ستاسو د پلار ابراهیم سنت دی. (مشکوة/ص۱۲۹)

د قرباني لپاره دا شرط ندی چې د ذکات خاوند دی وی بلکې د هر هغه چا لپاره لازمه ده چې په اساني سره د قرباني څاروي تر لاسه کولی شي

د اختر لمانځه ته پیاده تلل:

د عیدګاه په لور پیاده تلل سنت طریقه ده .په حدیث شریف کې د ابن عمر رضی الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم به عیدګاه ته پیاده تلو راتللو(بهیقی۳/۲۸۱)

د اختر لمونځ د خطبې نه وړاندې:

د ابن عمر رضی الله عنه څخه روایت دی چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم،حضرت عمر رضی الله عنه او حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه به د اختر لمونځ د خطبې نه وړاندې کولو. (بخاری/ص۱۳۱-لمړی جلد)

الله تعالی دې مونږ او تاسې ته هم په نیك کار د عمل کولو توفیق را په برخه کړي. (آمین)

فرهنگ اسلامی

از اوراق پراگنده

فرهنگ اسلامی متضمن چهار فصل یا چهار فصل رکن اساسی زیر میباشد:

عبادات-عادات-مهلکات-منجیات

هر یك از این چهار فصل یا چهاررکن حاوی ابواب و فصولی است که مغز و هسته تعلیمات دینی را تشکیل میدهد.

در فصل عبادات نخست کتاب علم و فوائد عقاید یا روح القوانین اسلامی را میخوانیم بدیهی است پایه و مبنی دین اسلام عقیده و ایمان بتوحید خالق متعالی جلت عظمته و کتاب آسمانی (قرآن) و مواعظ و حکم پیغمبر اسلام (صلی الله علیه وسلم) برای رهائی بشر از ظلمات شرك و بت پرستی مادی و معنوی و برائی وصول بچشمه سار نور و فروغ الهی است.

اسلام تاکید بلیغ در تحصیل علم و معرفت و حکمت دارد زیرا منشاء کلیه مفاسد و مصائب جهل و نادانی است و نادان در جهان گمراه و نابینامیباشد.

در کلام الله مجید موارد بسیاری در فضیلت علم و اهمیت عالم از نظر میگذرد که میتوان گفت در دین اسلام هیچ امری مهمتر از تحصیل علم شمرده نشده و تعلیم و تربیت پایه و اساس حیات فردی و اجتماعی قرار داده شده است.

در آیه ۱۷ از سوره آل عمران میخوانیم: « شهِدَاللّهُ أنه لااله الاهو الملائکة و أولو العلم قائماً بالقسط ».

شهادت داد الله (یعنی بنزول آیات واضحه روشن گردانید) که نیست الله غیر از او، ملائکه و دانشمندان به یکتائی الله، الله ئیکه بر پای دارنده عدل و داد است گواهی دادند.

راه یافتن بمفهوم توحید که پایه اساس دین است جز بوسیله دانش میسر نخواهد شد و فلسفه و اوامر و نواهی دینی را تنها باقوو مجاهدت و کسب کمال میتوان ادراك نمود و بحقایق آسمانی ایمان آورد در سوره سبا آیه ششم خطاب برسول اکرم این معنی بدست میاید که: « و یری الذین أوتو العلم الذی أنزل الیك من ربك هوالحق و یهدی الی صراط العزیز الحمید ».

« و می بینند آنانکه دانش دارند آنچه فرستاده شده بسوی تو از جانب پروردگارت، حق و درست است، و الله راهنما بسوی راه راست میباشد »

شواهد دیگری در اهمیت دانش و بینش، از لحاظ مبادی دینی وجود دارد و در شریعت اسلام- دانا و نادان بحکم: « قل هل یستوی الذین یعلمون و الذین لایعلمون- وما یستوی الاعمی و البصیر » یکسان نمیباشند. تحصیل علم نیز با وسائل تعلیم و کوشش فراهم میشود- هیچکس عالم بدنیا نیامده و هر فردی باید چشم و گوش و قلب و مشاعر و ادراك خود را برای کسب دانائی و بینائی بکار برد- و الله اخرجکم من بطون امهاتکم لاتعلمون شیئا وجعل لکم السمع والابصار و الافئدة.

دعوت و تبلیغ و راهنمائی بسوی حقیقت را قرآن مجید بر اساس دلیل و منطق، حکمت و اخلاق حمیده، موعظه و نصیحت مستقر فرموده و حکم: « أدع الی سبیل ربك بالحکمة والموعظة الحسنه » شاهد مقصود است و امر. « وجادلهم بالتی هی احسن » واضح میسازد که اسلام منطق و حکمت، علم و معرفت را بجای قوه شمشیر وسیله هدایت و دعوت قرار داده است.

رسول اکرم(صلی الله علیه وسلم) میفرماید: دانشمندان بازماندگان پیامبران می باشند و نیز فرموده: بهترین مرد مومن عالم است که منافع عمومی را بر مصالح خصوصی برتری دهد.

در اغلب موارد از اخبار ماثوره چنین برمیاید که علم را شارع مقدس ما با درجه نبوت در یك میزان تعریف فرموده و عالم را بر عابد زاهد رجحان نهاده است.

با توجه و مطالعه آیات بینات و اراده و نظرات پیغمبر اسلام و أئمه هدی مسلم بود که کمیت و کیفیت سازمان های فردی و اجتماعی مسلمین باید مبنی بر اساس علم و معرفت بوده باشد.

در برنامه علوم دینی نخست علم کتاب و توحید، فقه و حقوق اسلامی منظور شده است. هر مسلمانی باید کتاب آسمانی و قانون اساسی دین را که راهنمای زندگانی معنوی و مادی و مشعل راه الله شناسی است بخواندو بداند و همواره با آیات کریمه وظایف ملکوتی واجتماعی را بخاطر بسیار عبادات و موازین معاملات (حلال و حرام) و پایه و مبانی حقوق اقتصادی را بیان میکند دانستن این مواد برای مردو زن مسلمان از نظر عمل باوامر و پرهیز از نواهی ضرورت دارد. و بیش و کم عامه باید علوم شرعیه که بدان نیازمند هستند بدانند و عبادات و ریاضت های روحانی و حقوق فردی و اجتماعی در معاملات و سیاست مدن را فرا گیرند.

تحصیل علوم متعارفه مانند طب، ریاضیات، حکمت و فلسفه و طبقات و رشته ها و مسائلیکه مرور زمان از لحاظ نیازهای زندگانی و سیر تکامل بشری پیش میاورد أهمیت خاص در مصارف اسلامی دارد علوم متعارفه از نظر اوامر و نواهی و تکالیف دینی بدو قسمت تقسیم میشود علوم محموده، علوم مذمومه.

بطور کلی معارف و علومیکه نافع برای تقویت مشاعر و ادراکات فردی و مصالح اجتماعی و موید ترقی و موجد تهذیب نفوس و بینائی در امور اقتصادی و سایر نیازهای زندگانی است ممدوح و پنسدیده شمرده شده، برخلاف معلوماتیکه سبب اختلال عقلی فرد و جامعه و تزلزل نظامات زندگانی است یا صرف وقت روی آن عبث و بیهوده است مذموم و اغلب ممنوع است.

علم سحر، طلسمات، کف بینی و غیب گوئی. صنایع و معلوماتی که به زیان افراد یا اجتماع است مذموم و مواردی هم از لحاظ ضرر و زیان هائی که در بر دارد آموختن و تعلیم دادن آنها حرام و موجب مسئولیت شدید است.

در فرهنگ اسلامی منظور از علم درهمه جا علوم و فنونی است که نافع بحال فرد و در عین حال زیان بخش از لحاظ نظامات اجتماعی و مصالح عمومی نباشد.رسول اکرم(صلی الله علیه وسلم) میفرماید: پناه میبرم به الله از دانشی که نفع (عمومی) در آن نباشد.

بدیهی است هدف معارف دینی ملت و جامعه و قوم خاصی نیست و از بسط و توسعه دانش منافع عمومی جامعه انسانی در مدنظر است.

بنابر این اگر از علوم محموده هم نتایج زیان بخش و مذموم گرفته شود و مضر بحال افراد یا جامعه واقع گردد تعلیم و تعقیب آن هم ممنوع و چنین استنباط و مطالعاتی هم در ردیف منهیات بشمار میاید.

یکی از علوم و دانشیکه از لحاظ طرز استفاده ممدوح یا مذموم ممکن است واقع شود ادبیات و فلسفه و شعر میباشد.

پیدایش شعر و ادب و فلسفه برای تحریك حواس و تقویت عواطف ورشد عقلی و فکری انسانی در مراحل کمال وجمال بوده است. ادبیاتیکه حاوی مواعظ و حکمت، مربی اخلاق و وسیله تهذیب نفوس و اتحاد و اتفاق و صلح و صفاو ارتقاء بشر بعالم روحانی باشد البته ممدوح است و همان است که در مورد آن گفته شده «إن من الشعر لحكمة».

قلب آدب موجب نقض غرض و تبدیل معانی و وسیله گمراهی و اغفال اجتماعی و واسطه النهاب و جنگ و خونریزی و اغراض فاسده و طوفان های عالمگیر بشود و در خطابه های و سخن رانیها بابیان الفاظ زیبا معانی دیگری غیر از آنچه

قاموس و فرهنگ عمومی از آن استنباط میکند مورد عمل واقع گردد. یا برای تقویت و تشویق مردم به میگساری و اعمال منافی عفت مصرف شود. این چنین شعر و ادب در شریعت اسلام مذموم و احیانا حرام و مورد عذاب و عقاب میباشد.

اسلام برای آنکه رشد عقلی و فکری در عامه موجود بشود و نقاط ضعف فردی و اجتماعی که محل رخنه و نفوذ عناصر جاه طلب و فاسد است محو گردد تحصیل علم را برای هر مسلمان واجب شمرده و اجتهاد و تدقیق در مسائلی که در هر انسانی باید وجود داشته باشد مانع میگردد که ادراك فردی و اجتماعی در حال خمود بماند زیرا رستگاری در تمیز حق و باطل، صحیح و سقیم جز بقوه اجتهاد و معارف روحانی میسر نمیگردد.

منافعیکه جامعه انسانی از علوم برده و مسائلیکه اساس مطالب عصرو سیاست و اقتصاد امروز را تشکیل میدهد کم کم بمرحله أدبی رسیده که اغلب این معلومات بادسایس دجال صفتان از مرحله مستقیم منحرف و مضر واقع شده است.

علوم طبیعی در نتیجه انحراف علوم اربی بجای اینکه نیروی طبیعت را بخدمت جامعه انسانی دعوت کند کمال نرا وسیله زوال و فنای بشر قرار داده است.

اجتهاد و تدقیق در مباحث علمی و کشف امور جدیده و معرفت بافعال طبیعت و رسوخ در علوم و فنون در قران مجید تاکید و توصیه شده.

در نظر اسلام أولین جهاد بین امم باید جهاد علمی و عقلی باشد نه قوه شمشیر که سیر تکامل را متوقف و تمدن را نابود سازد.

از دیاد سکنه زمین و کمی محصول و ازوم تنازع بقا که پایه استدلال بعضی أفراد سطحی وظاهر بین أست، در فرهنگ اسلامی مردود میباشد، زیرا بهر اندازه که تعداد نفوس افزون شود، مستنبطاب علمی و صنعتی یا تعاون عقلی ترقی نماید.بشر به کشف مواد جدیدی برای دوام و بقای خود موفق میگردد.

معارف اسلامی حدود و نژاد و لغت نمیشناسد، نفع اوعام است و نخستین غرض از علم را کمال روحانی و علو مدارج عقلی میداند.

شرایط تحصیل علم در شریعت اسلام نخست طهارت نفس از رذایل اخلاق و اوصاف مذموم است. همانطورکه صحیح بودن نماز منوط به پاکی جوارح و رعایت قواعد و حقوق دینی از هر جهت است وصول بحقایق علمی هم مرتبط به په پاکی قلب و حسن نیت میباشد.

در تلو عبادات اسرار طهارت، نماز، روزه، زکوة، حج، جهاد، امر بمعروف و نهی از منکر آشکار میشود.

در عادات و اداب باحفظ موازین دینی، خوراك، پوشاك، فهم اداب صحبت و معاشرت بااصناف خلق و دانستن حلال و حرام سبب یافتن حقایقی میباشد که هر مسلمانی دانا و عارف بمسایل و اوامر و نواهی بشود و فریضه خویش را در امر بمعروف و نهی از منکر باحُسْن خلق ادا کند.

مهلکات که باعث مرگ قلب و نشاط وجدان میگردد یکی آفات شهوت بویژه شکم پرستی و ارتکاب اعمال منافی عفت، حقد حسد، دنیا خواهی، عشق بجمع آوری مال، جاه طلبی، بخل، غرور میباشد.

موجبات رستگاری یا منجیات دانستن احکام دینی،عمل باوامرو نواهی تحصیل علم بمنظور نفع عمومی، صبروشکر، خوف ورجا،فقر و زهد، توحید وتوکل، محبت و شوق و انس بعبادات. مراقبت و محاسبه روز مره عملیات زندگانی تفکر و توجه بعواقب امور است.

بامطالعه بدقاق فلسفی و اجتماعی دیانت اسلام مدلل میشود که کلیه معضلات فردی و اجتماعی و أفق ظلمانی و خوی حیوانی باعمل باحکام دینی حل میگردد. حقیقت اینست که باید گفت: «ان الدین عندالله الاسلام» آنچه خوبان همه دارند تو تنها داری!

د قفقاز د سردرو اتل

امام شامل (رحمه الله)

ترجمه : ابا عبید

پدي وروستو وختو کی یو ځل بیا د قفقاز په سردرو کی د امام شامل (رحمه الله)د میړانی اوسرښندنی یاد تازه شو او د دی سردرو بچیانو بیا د یرغلگرو روسانو په مقابل کی په نه ستړی کیدونکی جهاد او مبارزه پیل وکړ او ظالمو روسانو ته ئی وښودل چی د کمونیزم په سره بټۍ کی د سوزیدو باوجود ئی خپل دینی غیرت او ایمانی جذبه لا

تر اوسه د امام شامل او د ده د کاروان د ملگرو په لاس ژوندی ساتلی او دغه کاروان ئی یو ځل بیا د خپل هدف په لور روان کړی او د امام شامل تگ لاره ئی خپل هدف ته د رسیدو شعار گرځولی دی.

امام شامل او یا د قفقاز د سردرو قهرمان په کال ۱۸۷۱ عیسوی د فروری د میاشت په اولسمه نیټه په مدینه منوره کی وفات شو.

شیخ شامل په قفقاز او چیچنیا کی د مؤمنو مجاهدینو قیادت په غاړه درلود او پنځه ویشت کاله پرله پسی ئی په قوی ایمان او مضبوطه اراده نه هیریدونکی کارنامی ترسره کړی.

امام شامل د داغستان د «غمیری» په کلی کی په کال ۱۷۹۷میلادی کي زیږیدلی او پلار ئی د داغستان د سپین روږو او قابل قدر شخصیتونو له جملی

شیخ شامل په قفقاز او چیچنیا کی د مؤمنو مجاهدینو قیادت په غاړه درلود او پنځه ویشت کاله پرله پسی ئی په قوی ایمان او مضبوطه اراده نه هیریدونکی کارنامی ترسره کړی.

څخه ؤ.نوموړي د شپږ کلنۍ په عمر کې په درس اوتدریس شروع وکړه او ځوانۍ ته په رسیدو سره ئې دیني علم او په عربي ژبه کې ئې د منطق علم حاصل کړ.

په کال ۱۸۳۰میلادي کې د غازي محمدبیګ د جماعت سره یوځای شو، په دغه وخت کې داغستان د روسي یرغلګرو له خوا نیول شوی ؤ.غازي محمد بیګ په کال ۱۸۳۲میلادي کې د روسانو له خوا شهید کړی شو او د هغه په ځای د هغه ملګری غمزت بیګ وټاکل شو.

په کال ۱۸۳٤میلادي کې د غمزت د قتل نه وروسته د دغه تنظیم مشري امام شامل ته وسپارل شوه او په دغه ډول امام شامل د داغستان د جهادي تحریك دریم امیر وټاکل شو.

امام شامل په کال ۱۸۳٤میلادي کې د داغستان په آزادو سیمو کې ځانګړې حکومت اعلان کړ او د یرغلګرو روسیانو په مقابل کې ئې د داغستان او شیشان مجاهدین منظم او د قفقاز په سیمو کې ئې پراخه مسلحانه عملیات پیل کړل.

په کال۱۸۳۸ میلادي کې روسي یرغلګرو په خپل ټول قوت سره د امام شامل په مرکزونو پراخه عملیات پیل کړل او د قفقاز د «اهولګو» سیمه ئې د خپل تصرف لاندې راوستله.

شیخ شامل او ورسره ملګرو ئې د روسانو د دې حملې په مقابل کې مقاومت ونه کړی شو او شاته کیدو ته مجبور شول.

امام شامل خپل قوتونه د داغستان په غرنیو سیمو کې بیا منظم کړل او د وحشي روسانو په مقابل کې ئې پراخه عملیات پیل کړل چې دغه عملیات یو ځل بیا د روسي پوځونو د زیات مرګ ژوبلې سبب شول.

په کال ۱۸۵۷میلادي روسان د امام شامل د دغو عملیاتو نه په تنګ راغلل او ددې خطر احساس ئې وکړ که چیرې د امام شامل دغه حملو دوام وموند نو لرې نه ده چې د قفقاز سیمه به بیا د مسلمانانو لاس ته په مکمل ډول ورشي او دا ځل به نه یوازې د قفقاز مسلمانان بلکې د نړې ټول اسلامي امت د روسانو په مقابل کې یو موټی او یو لاس شي.

روسانو د امام شامل د قوتونو د له منځه وړلو لپاره دجنرال افدوکیموف په مشرۍ په قفقاز کې بیا پراخه عملیات شروع کړل، د روسانو د دغو عملیاتو په مقابل کې د شیخ شامل ډلې مقاومت ونه شو کړی چې په نتیجه کې ئې په زیات شمیر ملګري روسانو ته په تسلیمدو مجبور شول او بلآخره روسي پوځونه په دې بریالي شول چې د فیدنیو په سیمو کې د شیخ شامل ټول مرکزونه د خپل تصرف لاندې راولي او امام شامل د خپل محدود قوت سره مجبور شو چې د «ګونیف» غرونو ته پناه یوسي.

په کال ۱۸۵۹میلادي کې یرغلګر روسان په دې بریالي شول چې په قفقاز کې د امام شامل ټول پوځي مرکزونه ختم کړي او امام شامل د روس مرکز «بطرسبرغ» ته په تسلیمیدو مجبور شو.

د روس قیصر د امام شامل ښه استقبال وکړ او هغه ته ئې اجازت ورکړ چې د روسیې له خاوري څخه بهر شي.

په کال ۱۸۷۰میلادي کې امام شامل د حج د فریضې د اداء کولو په نیت سعودي عربستان ته لاړ، د حج د فریضې د اداء کولو وروسته په همدې کال د ۷٤ کالو په عمر په مدینه منوره کې وفات شو.

د امام شامل پاتې کورنۍ ترکیې ته هجرت وکړ چې د هغوی له جملې څخه محمد فاضل پاشا داغستاني د بغداد د امپراطورۍ له د هغه د والي په حیث مقرر شو او په لمړۍ نړیواله جګړه کې ئې د سرلښکر دنده په غاړه دلوده.

د صحابه ؤ (رضي الله عنهم) ژوند ته یوه لنډه کتنه

د محمدشیرین «اسد» لیکنه

حضرت عمرو بن جموح (رضی الله عنه)

حضرت عمرو بن جموح (رضی الله عنه) د جاهلیت په دور کی د یثرب یو ستر او پیژندل شوی شخصیت ؤ او د بنو سلمه د قبیلی یو سخی او زړور سردار ؤ.

د جاهلیت په زمانه کی د عربو د سردارانو دا دستور ؤ چی هر سردار به د خپل عبادت له پاره یو خاص بت په ډیر عزت، شان و شوکت په خپل کور کی ساته او سهار او ماښام به ئی د هغه عبادت کولو او د خوشحالو په مواقعو کی ئی د دغه بت په نوم ځاروی ذبح کول او د غم او خفگان په وخت کی به ئی تری پناه غوښتله.

د حضرت عمرو بن جموح (رضی الله عنه) د بت نوم «مناة» ؤ چی د یو قیمتی لرگی څخه جوړ کړی شوی ؤ. په کور کی به ئی د هغه زیاته پالنه کوله او په هغه به ئی هره ورځ اعلی ډول عطر شیندل.

د حضرت عمروبن جموح (رضی الله عنه) عمر تقریباً شپیته کالو ته رسیده چی د ایمان زرینی وړانگی ئی په کور خوری شوی. لمړی د حضرت مصعب بن عمیر(رضی الله عنه) د تبلیغ او دعوت په نتیجه کی د حضرت عمرو بن جموح (رضی الله عنه) ځامنو سعود، معاذ، او خلاد (رضی الله عنهم)او د هغه دوست حضرت معاذ بن جبل (رضی الله عنه) اسلام قبول کړ.

د حضرت عمرو بن جموح (رضی الله عنه)میرمن «هند» هم د خپلو ځامنو څخه متاثره شوه او د اسلام په مقدس دین مشرفه شوه. مگر حضرت عمرو بن جموح (رضی الله عنه) پدی نه ؤ پوهه چی گوندی د ده کورنی مسلمانه شوی ده.

د حضرت عمرو بن جموح رضی الله عنه میرمنی دا فکر کولو چی د یثرب اکثره اوسیدونکو خو اسلام قبول کړ، صرف د هغی خاوند او نورو څو تنو قریشو سردارانو برسیره نور ټول د اسلام په دایره کی شامل شول، الله دی نه کړی چیری زما خاوند د کفر په حالت کی مړ نه شی. بل خوا حضرت عمرو بن جموح (رضی الله عنه) ته دا اندیښنه وه چی چیری د ده ځامن د خپل پلار نیکه دین پری نږدی او د اسلام د مبلغ حضرت مصعب بن عمیر رضی الله عنه پیروی قبوله نه کړی، چا چی په ډیره لږه موده کی ډیر خلك له خپل پلرنی دین څخه منحرف او د محمد(صلی الله علیه وسلم) د دین شیدایان ئی وگرځول.

یوه ورځ هغه خپلی میرمنی ته وویل: ای هندا! پام کوه چیری ستا ځامن د عمیر (رضی الله عنه) په جال کی گیر نه شی. بیائی وویل مونږ ته پکار ده چی د دغه سړی په باره کی لږ څه فکر وکړو.

میرمن ئی ورته ځواب ورکړ:

ستا خبری می په سر سترګو قبولی دی خو د خپلو ځامنو نه دی هغه خبری آوریدلی دی کومی چی هغوی د مصعب بن عمیر (رضی الله عنه) له خولی اوریدلی دی؟

خاوند ئی ورته ځواب ورکړ: ډیره د افسوس خبره ده چی زما ځامن له خپل دین څخه اوښتی دی او زه لا تر اوسه خبر هم نه یم.

کله چی دغی نیکی ښځی د خپل خاوند قهرژنه لهجه واوریده نو فوراً ئی له ویری وویل: نه داسی نه ده زمونږ ځامنو خو د مصعب بن عمیر په یو مجلس کی دغه خبری اوریدلی دی او صرف زبانی ئی یادی کړی دی.

بیا حضرت عمرو بن جموح (رضی الله عنه) وویل: ښه ده ورشه او هغوی زما څنګ ته راوله چی د مصعب بن عمیر هغه خبری زه هم واورم کومی چی هغوی اوریدلی دی.

کله چی هغه راغلل نو فوراً ئی ورته د فاتحی د سورة تلاوت شروع کړ:

بسم الله الرحمن الرحیم

الحمدلله رب العلمین * الرحمن الرحیم* مالك یوم الدین* إیاك نعبد و إیاك نستعین* إهدنا الصراط المستقیم * صراط الذین* أنعمت علیهم* غیر المغضوب علیهم* والاالضالین* امین.

شروع د الله په نوم چی رحیم او رحمان دی. ټول تعریفونه الله لره دی، چی د ټول کاینات رب دی، رحمان او رحیم دی ، د جزا د ورځی څښتن دی،مونږ ستا عبادت کوو او ستا نه مرسته غواړو، مونږ ته سمه لاره وښایه ، د هغو خلکو لاره په چا چی انعام فرمایلی، نه لاره د هغو بدو کسانو چی غضب کړی شوی په هغوی باندی چی ګمراهان دی. آمین

حضرت عمرو (رضی الله عنه) چی دا سورت واورید نو ډیر اثر ئی پری وکړ او وئی ویل:دا خو ډیر زیات خوږ کلام دی، ایا د هغه هره خبره داسی خوږه ده؟

حضرت معاذ (رضی الله عنه) ځواب ورکړ: هو ګرانه پلاره! ټول داسی خوږ او زړه راښکونکی کلام دی.

د دی کلام د اوریدو په وجه خو زمونږ ټول قوم مسلمان شو او ټول د اسلام په دایره کی شامل شول.آیا ته ئی نه قبلوی؟

د ځوی د خبرو په اوریدو سره حضرت عمرو بن جموح (رضی الله عنه) څه شیبه خاموشه پاتی شو او بیا ئی وویل: زه دومره لوی اقدام د «مناة» د مشوری نه بغیر نه شم کولی.ګورو چی مناة په دغه باب ما ته څه مشوره راکوی.

ځوی ورته وویل: پلاره! دا ناممکنه ده چی مناة دی تاته څه مشوره درکړی، ځکه هغه د لرګی نه جوړ یو بت دی چی نه د اوریدلو او نه د ویلو صلاحیت لری.

پلار ورته په قهرژنه لهجه وویل: ماتاته یو ځل وویل چی زه د مناة د مشوری نه بغیر هیڅ فیصله نه شم کولی.

بیا حضرت عمرو بن جموح (رضی الله عنه) د مناة څنګ ته ورغی. د هغه دا عادت ؤ چی کله به ئی د خپل «مناة» سره خبری کولی نو یوه بوډۍ ښځه به ئی د مناة شا ته کښینوله او داسی فکر به ئی کولو دا بوډۍ چی زما د پوښتنی ځواب راکوی نو دا ئی «مناة» پوه کوی.

په ډیر ادب او احترام ئی تری پوښتنه وکړه. ای مناة! تا ته خو د دی خبری علم دی چی مصعب بن عمیر چی د مکی نه زمونږ کلی ته راغلی نو صرف پدی غرض چی تا ته نقصان دررورسوی او خلك ستا د عبادت نه منع کړی. په ما خو د هغه خبرو ډیر زیات اثر وکړ خو زه دا مناسب نه ګنم چی زه بغیر ستا د مشوري او اجازت نه د هغه سره بیعت وکړم. ته مهربانی وکړه او ما ته په دغه باب مشوره راکړه

او زما لاربنوونه وکړه، ځکه زه ډیر زیات پریشانه یم.
خو د «مناة» له اړخه ورته هیڅ ځواب ورنکړی شو.
هغه چې دا حالت ولید نو ډیر زیات خواشینی شو او وئی ویل: گرانه مناة! ؛داسی ښکاري چې ته زما په دی خبرو خفه شوی، زه ستا سره وعده کوم چې په اینده کی به ستا په مخکی دا ډول خبری نه کوم، ته مه خفه کیږه زه به ستا د عبادت لپاره نور هره ورځ راځم چې ستا قهر سوړ شی.
بل خوا د حضرت عمرو بن جموح (رضی الله عنه) ځامن په دی پوهیدل چې د هغوی پلار په کلونو کلونو د یو بت پرستش او عبادت کړی او د هغه له ذهن نه دا خبره ویستل چې «مناة» نه تا ته خیر دررسولی شی او نه شر، څه وخت غواړی.د وعظ او تبلیغ نه برسیره باید په عملی توگه هغه ته دا وښودل شی چې دغه بت د هیڅ څیز صلاحیت او توان نلری. نو یوه شپه ئی د خپل ملگری معاذ بن جبل (رضی الله عنه) په ملگرتیا مناة رااوچت کړ او په هغه گنده نالۍکی ئې غوزار کړ په کومه کی چې به د بنو سلمه اوسیدونکو گندگئ غوزوله.
کله چې سهار شو او حضرت عمرو بن جموح (رضی الله عنه)د خپل معبود «مناة» د سلام لپاره ورغی گوری چې مناة نشته ، فوراً د مناة په لټه کی شو، د ډیرو منډو ترړو وروسته ئی خپل مناة په یوه گنده ویاله کی پیدا کړ، هغه ئی پری مینځه او عطر ئی پری ولگول او بیائی په تاکلی ځای کی کیښود او ورته ئی وویل: په الله می د ی قسم وی که ما هغه خلك معلوم کړل چاچې ستا سره دا ډول سلوك کړی نو زه به ئی رسوا او ذلیله کړم.
بله شپه د هغه ځامنو بیا دغه بت راوخیست او هم دغه ډول سلوك ئی ورسره وکړ.کله چې سهار شو حضرت عمرو بن جموح(رضی الله عنه) گوری چې بیائی مناة چا غلا کړی دی، د زیات لټون وروسته ئی«مناة» بیا په هم هغه ویاله کی پیدا کړ، هغه ئی بیا پری مینځه ، عطر ئی پری وشیندل او په خپل ځای کی ئی کیښود.
ځامنو ئی د مناة سره څو شپی پرله پسی دغه ډول سلوك وکړ .
پلار ئی د مناة په بیا بیا راوړو او پاکولو ستړی شو نو بلآخره ئی خپله توره راواخستله او د مناة غاړی ته ئی واچوله او ورته وئي ویل:
ای زما مناة ! ما خو ډیر کوشش وکړ چې ستا دښمن پیدا کړم خو زه ستا د دښمن په پیدا کولو کي پاتي راغلم ، اوس که ته خپله دفاع کولی شی نو توره می درکړه خپل دښمن په خپله ختم کړه.
کله چې حضرت عمرو بن جموح (رضی الله عنه) ویده شو نو ځامن ئی بیا په ډیر احتیاط راغلل او مناة ئی را اوچت کړ ، له کوره ئی رابهر کړ، توره ئی ورله له غاړی لری کړه او یو مړ سپی ئی ورسره یو ځای وتاړه او بیا ئی په گنده ویاله کی گذار کړ.
کله چې ئی پلار له خوبه رابیدار شو گوری چې مناة بیا نشته، د زیات لټون وروسته ئی مناة په داسی حال کی پیدا کړ چې په ویاله کی نسکور پروت دی او یو مړ سپی ئی ورسره تړلی دی.
دغه صحنه چې حضرت عمرو بن جموح (رضی الله عنه) ولیده نو په زړه کی ئی د مناة په مقابل کی کرکه او نفرت پیدا شو او دا ځل ئی مناة په هم هغه ځای کی پریښود او ورته ئی وویل: په الله می دی قسم وی که ته چیری په ربښتیا مشکل کشا او حاجت روا وی نو په دی گنده نالۍ کی به د دی مردار سپی سره یو ځای نه وی پروت . بیا ئی په جار د ایمان راوړلو اعلان وکړ.
حضرت عمرو بن جموح (رضی الله عنه) د ایمان په راوړو ډیر زیات

خوشحاله ؤ خو کله چی به ورته خپل تیر عمر وریه یاد شو چی زیات عمرئی په شرك او بت پرستیړ کی تیر کړی نو ډیر زیات به خواشینی شو او د الله تعالی نه به ئی د خپلی گناه د بخښنی غوښتنه کوله.

څه موده وروسته د احد غزا شروع شوه او د هغه ځامنو د الله تعالی او د هغه د برحق رسول (صلی الله علیه وسلم) د دښمنانو په مقابل کی په جهاد کی د برخی اخستلو تیاریانی شروع کړی. نو حضرت عمرو بن جموح(رضی الله عنه) د خپلو ځامنو د دغه ډول ایمانی جذبی نه ډیر زیات متاثره شو او په خپله ئی هم په دغه جهاد کی د برخی اخستلو اراده وکړه خو ځامنو ئی خپل پلار د دغه عزم نه منع کړ، ځکه یو خوا د هغه عمر دا تقاضا نه کوله چی هغه دی په جهاد کی برخه واخلی او بل خوا هغه په یوه پښه معذور هم ؤ.

ځامنو ئی ورته عرض وکړ: ای پلاره! د الله تعالی په نزد ته معذوره ئی او بل دا چی ته دغه تکلیف نه شی زغملی ، د الله تعالی د دی حکم نه ته خلاص ئی.

پلار د خپلو ځامنو پدی خبرو ډیر زیات خواشینی شو او د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) حضور ته ورغلو او ورته ئی عرض وکړ:یارسول الله ! ما خپل ځامن له جهاد کولو نه منع کوی او دا دلیل وائی چی ته په پښه گوډ (معذوره) ئی.

په الله می دی قسم وی چی زه په دې گوډه پښه جنت ته تلل غواړم .رسول الله صلی الله علیه وسلم چی د هغه دا ایمانی جذبه ولیده نو د هغه ځامنو ته ئی وفرمایل:پریږدئ چی دی په جهاد کی برخه واخلی ، کیدی شی چی الله تعالی ده ته د شهادت مقام نصیب کړی وی .

ځامن ئی د رسول الله صلی الله علیه وسلم د حکم په مقابل کی خاموشه پاتی شو او هغه ئی له ځان سره ملگری کړ.

د روانیدلو نه وړاندی هغه خپل کور ته ورغی او له خپلی میرمنی نه ئی داسی رخصت راواخست چی گوندی بیا به نه راځی. بیائی د قبلی په لور مخ کړ او دا دعا ئی وکړه:

الهی ! د شهادت اوچته عظیمه مرتبه می نصیب کړی او ناکامه می بیرته کور ته راستون نه کړی . بیا د بنو سلمه د قبیلی په گروپ کی روان شو.

کله چی د جهاد ډگر ته ورسید نو رسول الله صلی الله علیه وسلم ټول مجاهدین په مختلفو برخو تقسیم کړل او حضرت عمروبن جموح (رضی الله عنه) ئی ولید چی د مجاهدینو په لمړی قطار کی په گوډه پښه د خپل ځوی خلاد سره روان دی او په اوچت آواز وائی چی: زه د جنت شیدا یم . زه د جنت په لته کی راوتی یم.

دواړه پلار او ځوی په ډیره میړانه د دښمن مقابله وکړه او د څه شیبی وروسته پلار او ځوی دواړه د شهادت په عالی درجه ورسیدل.

کله چی جنگ ختم شو نو رسول الله صلی الله علیه وسلم ئی څنگ ته ورغی چی د تدفین بندوبست ئی وکړی. بیائی خپلو صحابهٔ و ته وفرمایل:د اسلام شهیدان د خپلو وینو په سرو جامو کی ښخ کړئ تر څو د قیامت په ورځ د دوی سری جامی او زخمونه د دوی په شهادت گواهی ورکړی.

بیائی وفرمایل:

څوك چی د الله تعالی په لار کی زخمی شی نو د قیامت په ورځ به هغه په داسی حالت کی راوچتولی شی چی د زخمونو نه به ئی زعفرانی رنگ وینه بهیږی او د مشکو بوی به تری خیژی.

بیائی وفرمایل:

عمرو بن جموح او عبدالله بن عمرو (رضی الله عنهما) په یو قبر کی ښخ کړئ ، ځکه دوی د یو بل سره صرف د الله تعالی د رضا د حصول په غرض ئی له یو بل سره مینه درلوده.

(رضی الله عنه)

مسلمان ملت او د یهودیت دام

هند او د یهودیت اغیزه

لکه څنګه چې وړاندې وویل شول یهود په نړۍ کې یو ډیر فعال او مرموز قوم دي، دا صیهونست قوم د خپل هدف لپاره شپه او ورځ کار کوي او د خپل هدف ته د رسیدو په لار کې یوه دقیقه وخت هم له لاسه نه ورکوي. لکه څنګه چې د امریکا او برتانیې د حکومتي ګاډیو سیاسي واګې یهودیانو له ډیر پخوا څخه په خپله ولقه کې اخستې دي؛ دغسې یې د خپل ښکار غشې د هند په لور هم ویشتلې دي، اوس ګورو چې یهود د هند په نیمه وچه کې څرنګه دخپل هدف لامبو وهي.

کچلوال

په سیاسي لحاظ هند ځان په نړۍ کې د جمهوریت او ډیموکراسۍ یو علمبردار هیرو ګڼي خو د سیاست او جمهوریت دا هیرو په یهودي جال کې څنګه سر زدي اوګیریږي؟

هسې خو له ډیره وخته راهیسې د کشمیر مسئله په متنازعه شکل کې پرته ده او لا تر اوسه د هند او پاکستان تر منځ نه یوازې دا چې ددې سیمې په هکله کومه غوځه فیصله نه ده شوې بلکې وخت په وخت دا تاؤ تریخوالي زیات شوی او ددې دواړو هیوادونو په سیاسي اړیکو یې ډیره بده اغیزه کړې ده. یهودیانو د کشمیر د تنازعې څخه په استفادې سره ځان دې سیمې ته رسولی او د خپل هدف په غرض د هند سره د هر ډول همکارۍ ژمنې کوي. مګر د حیرانتیا خبره داده چې د هند یو پخواني نامتو سیاست پوه «مهاتما ګاندي» چې د هندي حکومت یو پالیسي جوړونکې شخصیت دی، که دده ویناؤ ته وګورو هر وخت یې د اسرائیلو خلاف آواز اوچت کړی دی مګر د هند اوسنۍ پالیسۍ ته چې په دغه نظر ګورو، اوس هند او اسرائیل په یوه خوله ګوړې ماتوي.

مهاتما ګاندي د ۱۹۳۰ لسیزې په آواخرو کې د اسرائیلو او عربو د حیثیت په هکله په بربنډو ټکو کې دا ویلي وو چې «فلسطین په اصل کې د عربي هستوګنو ملك دی او په دې خاوره له بل هر دعوه کوونکي نه ددوی حقوق زیات دي» ګاندي وایي: «یهودیان چې د کوم قومي ملك غوښتنه کوي، دوي لکه څنګه چې دا نور انسانان په کومه ځمکه پیدا کیږي، ددوی غوندې د خپل پیدایښت ځای ولې خپل ملك نه ګڼي. لکه څنګه چې انګلستان د انګریزانو او هندوستان زمونږه ملك دی، دغه ډول فلسطین هم د عربو ملك دی. یهودیان په عربو مسلط کول یو غیر انساني عمل او کړنه ده. نن چې په فلسطین کې هر څه کیږي د هیڅ یو قانون له مخې جایز نه ګڼل کیږي. (هفت روزه تکبیر -کراچي ۱۹/۱۱/۱۹۸۷م)

مګر له دې وروسته په ۱۹۵۰میلادي کې هند داسرائیلو وجود په رسمیت و- پیژاند او په ۱۹۵۲میلادي کې اسرائیلو په بمبئ کې خپله قنسلګري هم پرانستله چې لا تر اوسه خپل کار کوي. هند او اسرائیلو چې له یو بل سره کومې خفیه اړیکې ټینګې کړې دي، ددې نه دا

معلومیږي چي اسرائیلود هند په فوځي ادارو کي هم ځانونه ځای پځای کړي دي او داسي فکر کیږي چي نن سبا د هند د ولقي لاندي کشمیر کي په مسلمانانو کوم ناروا مظالم تر سره کیږي او قدم په قدم له یوي ورځي نه بلي ورځي ته زیات دهشتناك او بي رحمانه وي، دا په حقیقت کي د هند په فوځي یرغلونو کي د اسرائیلي کماندو ظالمانه موجودیت دي. خو په دي اړوند ذهن ته یو سوال را پیدا کیږي او هغه دا چي: هند او اسرائیل دوه مخالفي پالیسۍ او نظریي وي، ددوی تر منځ داسي کوم عامل پیدا شو چي ددوی د اختلاف نقطه يي تنسیخ کړه او ددوی دغه اختلاف نظر يي له منځه ویست؟

زمونږ په فکر ددي پوښتني ځواب ډیر مدلل او واضح دی او هغه دا چي د مشترکه اسلام دښمنۍ نه بله کومه خاصه نقطه په نظر نه راځي او نه بل څه کیدي شي.

د ګاندي او یهودو تر منځ چي اړیکو کوم پیوستون موندلی ددي په باب یوي بنګالي برهمنۍ «مارګیریت چیټر» (چي وروسته يي بمیسحیت قبول کړی ؤ) په خپل کتاب کي دده دغه تور عمل څه په دي ډول بي پردی کړي دي: د هندوستان د سیاست د لومړی صف لاربنود بناغلي مهاتما ګاندي په دي معامله کي په سیاست کي له دروغو او منافقت څخه کار اخستی دي.

په نړیوال سیاست کي ددي خبري یادونه ضروري ده چي اسرائیل او د فري میسنز سازمان اکثره وختونه دداسي سازشونو منصوبي تیاروي چي نړیوال امنیت له منځه وړي او ددي په څنګ کي په نړیواله سطحه خپلي نقشي جوړوي او په دي کي رد و بدل هم کوي. دیو اوسني انکشاف نه دا معلومه شوي ده چي یهودیان په کشمیر کي یوه لویه فوځي چوڼۍ جوړول غواړي تر څو دسیمي انکشاف له نژدي څخه وکړي او په موجوده وضع کنترول حاصل کړي.

همدا رنګه د هند په ولقه کشمیر کي د یهودیانو د مداخلي اندازه ددي خبري نه هم ډیره ښه څرګندیږي چي تیر کال په سرینګر کي د کشمیر حالاتو د انکشاف په باب څو مخصوصي غونډي شوي وي. په دي غونډو کي د اسرائیلو د ځینو فوځي افسرانو په شمول د اسرائیلي فوځ لوی درستیز جنرال اس.ایف روډ ریګزر په دي غونډو کي برخه اخستي وه او په دي موقع د اسرائیلو د بهرنیو چارو وزیر شمعون پیرز هم د ځینو فوځي افسرانو سره د هندي کشمیر دوره وکړه او هندي حاکمانو شمعون پیرز ته د کشمیر د حالاتو په باب مکمل معلومات ورکړل.

په کشمیر کي د یهودي عزایمو په هکله د امریکا د

(Friends of Pakistan So-siety)

رئیس قومندان «راؤ» داسي وايي: یهودیان د هند په نیمه وچه کي دوه پروګرامونه په نظر کي لري: یو دا چي پاکستان په پنځه ؤ صوبو تقسیم کړي او بله دا چي کشمیر یو خپلواکه هیواد جوړ کړي، تر څو ددوی فوځي چوڼۍ د امنیت په بهانه ځای پځای پاتي شي او د هند د نیمي وچي د مکملو اختیاراتو د اخستلو لپاره خپل وضع کړي پلانونه عملي کړي او دلته هم لکه د امریکا او برتانیي غوندي د حکومتي ماشین کونجیاني پخپلو لاسو کي واخلي.

ددي پلان د عملي کولو لپاره یهودیانو ته لومړي د سیمه ایزو خلکوډ همکارۍ ضرورت لیدل کیده او ددي لپاره ئي بیرسټر سلطان محمود، عطیه عنایت الله، ډاکټر فاروق عبدالله او داسي نورو غونډي خلکو په خپل اعتماد کي اخستي دي او په کار يي اچولي دي. ددي هدف لپاره یهودیانو نوري هم ډیري بین المللي اداري په کار اچولي دي لکه د امریکا د بهرنیو چارو وزارت، د سناتور کارنیګي انستیتیوټ، سترد انستیتیوټ، هیري استمین، فورډ فاونډیشن او د امریکا د سینټ او کانګرس ځیني غړي لګیا دي کار کوي (هفت روزه تکبیر ۱۹۹٤/۱۲/۸م)

له پورتنیو اقتباساتو څخه د یهودیانو د مکروهو عزایمو څرګندونه دا حقیقت په ډاګه کوي چي یهودیان په اسیایي هیوادونو کي خپل پلانونه پلي کول غواړي او ددي سیمي د مسلمانانو د له منځه وړلو او ځای يي د خپل راج د

قایمولو لپاره د لاری هواری کوی.

نړیوال اقتصاد او یهودیت:

د یهودیانو د سیاسی چلوټو په باب مو څه لږ ډیر معلومات د قلم څوکې ته وسپارل او ددوي د سیاسی یرغلونو څخه پرده پورته شوه، اوس گورو چی دي شوم قوم نړیوال اقتصاد څرنگه په خپلو لاسو کی نیولی دي، د نړۍ انسانان په اقتصادی لحاظ څنکه ځانته اړپاسي او تر اقتصادی محاصری لاندی یی راولی؟

د تلمودی احکامو له مخی یهودیانو په نړیوال اقتصادي نظام کی د خپل هدف لپاره لومړی د «سود» وسیله په کار واچوله او ددی وسیلي د کامیابي نتیجي وروسته سودي نظام د یهودیت د نصب العین یوه عمده وسیله و گرځیده چی لا تر اوسه د خپل دغه نصب العین په لور بریالي گامونه اخلی او دا یی د خپلی کامیابی لپاره یوه متیقینه لاره گنلی ده.

د پروتوکول له مطالعي وروسته دا خبره ډاگیزه کیږی چی طلاؤ (زرو) ته په یهودی اقتصاد کی بنیادی اهمیت حاصل دی. یعنی هغه زر چی دیهودو په لاس کی دي، په نړیواله سطحه اقتصادي اضطراب پیدا کولی شی او دا اقصادي اضطراب کله د ډالر په مقابل کی د طلاؤ بیه ښکته کوی او کله ددی بر عکس وی. د ډالر او طلاؤ د بیې لوړوالی او ټیټوالی ددی خبری یو ښکاره ثبوت دي.

د یهودیانو لپاره لازمه ده چی غیر یهودو سره په سیاسی میدان کی یوازی مقابله ونه کړی بلکی په اقتصادی میدان کی هم جنگ وکړی او بری تر لاسه کړی او ددی خبری یو ښل عملی ثبوت په نړیواله سطحه سودی بانکونه دی.

پروتوکول یهودیانو ته ښکاره وایی چی جمعه واری (ذخیره اندوزی) وکړئ. او ددی لپاره کله دانشورنس او کله د بانك په نوم له نړیوالو جیبونو څخه پیسی ټولوی او امباروی یې.

د پروتوکول له مخی دی چی زمونږ د ننني دور معاملات تر دي رسیدلی دی چی د یو ازاد خیال حکمران ځای داسی څیز نیولی دی چی هغه د طلاؤ قوت دی، د مذهبي حکومت ورځ تیره شوی ده اوس د پانگوال دیو ډنډه ده، زمونږ د اهدافو د حصول لپاره دا ضروری ده چی ټول جنگونه په اقصادی نظر تر سره شي، نفرتونو ته د اقتصادی بحران په واسطه توسع ورکړل شي، تر څو تجارتي معاملی بندی او صنعت وځنډیږی. دغه خفیه طریقي چی نن زمونږ په لاس کی دی او هغه زر چی هغه هم تقریباً ټول زمونږ په لاس یو نړیوال اقتصادی بحران را منځته کولی شی او پدی طریقه کولی شو چی د ټولی اروپا د کارگرو هجوم په یو وخت سرکونو ته را وباسو. (طشت از بام-عالم اسلام اور صهونیت) نن چی گورو له نړیوال اقتصادي نظام نه یوه اتومي وسله جوړه شوی چی د هر وروسته پاتی هیواد او ټولنی لینگی ریږدوي. نن هیڅ یو هیواد او ټولنه په اتومی زور او قوت څوك تر خپل تاثیر لاندی دومره په اسانه نشی راوستلای مگر په اقتصادی زور یی د څو ورځو او څو ساعتونو په شمیر له غوږه ونیسی او د خپل حکم او خوښي منلو ته یی چمتو کړی.

په نننی اسلامي نړۍ د پانگی استبداد مسلط شوی دی او دا استبداد د اسلامي هیوادونو پخپل منځ کی د اسلامي اخوت فاصلی دی. په حقیقت کی ټول هغه څه چی د ټول لویدیځ او یا هر کفری قوت د ژوند سطحه ئی لوړه کړی ده د مسلمانانو منابع دی. مثلاً هر ډول معدنی او زراعتي شتمنی په مسلمانو هیوادونو کی په غټه پیمانه موندل کیږی او تر ټولو لویه شتمنی تیل دی او د همدی اسلامي هیوادونو د تیلو د دولت محصولات نن یهودی بینك کاران استعمالوی.

لنډه دا چی د ټولو اسلامي ټولنو اومه مواد بیرته پر دوي څو چنده گران پلورل کیږی او په اقتصادی لحاظ استحصالیږی.

زمونږ په نظر که هر کفری قوت او یا هره یهودی حربه نن اسلامي ټولنی د خپلو شومو اغراضو لپاره په اقتصادی لحاظ محصوری ساتی، ددی لومړنۍ پړه او ملامتیا د عربي هیوادونو پغاړه ده ځکه هغه کونجي چی ټول غربي او اروپایی کفری ماشین پری چالان دی، هغه د عربي هیوادونو په لاس کی ده.

(ادامه لری)

ترتيب او ترجمه: ابو وليد

غــوره وينــاوي

رباني ارشادات

* ما خپله رضا له نفس سره په مخالفت كي ايښودي ده. خلك ئي د نفس سره په موافقيت كي لټوي، نو څرنگ به ئي پيدا كړي؟

* ما آرام او راحت په جنت كي ايښودي دي. خلك ئي په دنيا كي لټوي،نو څرنگ به ئي پيدا كړي؟

* ماعلم او حكمت په لوږه كي ايښودي دي. خلك ئي په موړخ كي لټوي،نو څرنگ به ئي پيدا كړي؟

* ما سكون په قناعت كي ايښودي دي. خلك ئي په ډير دولت كي لټوي، نو څرنگ به ئي پيدا كړي؟

* ما عزت پخپل اطاعت كي ايښودي دي. خلك ئي په بادشاهۍ او اوچتو رتبو كي لټوي، نو څرنگ به ئي پيدا كړي؟

له رسول الله (صلي الله عليه وسلم) نه پوښتنه وشوه:

يا رسول الله!

د يو گاونډي په بل گاونډي څه حقوق واجب دي؟

هغه وفرمايل:

١- كه هغه ستا نه د قرض غوښتنه وكړه نو قرض ورسره وكړه.
٢- كه هغه تاته دعوت دركړ نو دعوت ئي قبول كړه.
٣- كه هغه ناروغه شو نو پوښتني له ئي ورځه.
٤- كه هغه ستا نه د مرستي غوښتنه وكړه نو مرسته ورسره وكړه.
٥- په ښادۍ كي ورته مباركي وركړه.
٦- د غم او خفگان په وخت كي ورسره غمرازي وكړه.
٧- په جنازه كي ئي گډون وكړه.
٨- د هغه په غير موجودگۍ كي د هغه د اهل و عيال پوښتنه كوه.
٩- د هغه د خوښي خلاف اوچت كور مه جوړوه.

پندهاي سه گانه

* از سه چيز خود را نگهداريد.شيطان، قهر و دروغ

* ازسه چيز مشكل پيدا ميشود: مريضي، ترس و غربت.

* سه چيز اگر رود باز نيايد: تير از كمان، روح از بدن و سخن از دهن.

* بر سه چيز هميشه اماده باشيد: مرگ، زاوال و تكليف.

* سه كس را احترام نمايد: والدين، استاد و قانون.

* سه چيز را هميشه پاك داريد: لباس، بدن و فكر.

عمل كنيد كه هر گز نقصان ندارد.

١- توكل در امور.
٢- راستي در گفتار.
٣- سرعت در خير.
٤- تقديم بر سلام.
٥- آداب در كلام.
٦- مصاحبت با نيكان.
٧- تعطيل در انتقام.
٨- نوازش بر ايتام.
٩- وفا بر عهد.

دضمیر آواز

د هــر چـا ســــــه وفادار یم وفا غواړم
د بې ننگه او بې وفـــــا نه پنا غواړم
چې د ســر او مـــال نه تیروی په ملګری
د هــر چـا د پاره دا رنګ اشنا غــواړم
چې د زړه په سترګو ړوند وی هغه څه کړم
زه انســـان ته د زړه سترګې بینا غواړم
کـــه د دین او د ملت خـــدمت ګناه‌وی
زه د ځــــان د پاره دواړه ګناه‌غــواړم
د ظـالـــــم د قصر بل مشال به څـه کړم
د ظـلمـونو ترزمـو ته رونا غـــــواړم
په خپل ګټه تاوان هر څــوک ښـه پوهیږی
زه د ملك د پاره پوهـ او دانا غـــواړم
د غمـــونو په ســـوکـړو سوی وطـن ته
د رحمت د باران سپینه بریښنا غــواړم
د جــــادو او د طلسـم اژدهـــاو ته
پدې وخت کی یو موسی او عصأغواړم
چې د بل د کور په غم باندی خندا کړی
زه «متین» دده په کـــور کی ژړا غواړم

د اسلام ستر فاتح حضرت عمر فاروق

(رضي الله عنه)

بشير الله «ظفر»

دعمر فاروق (رضي الله عنه) لومړی خطبه:

کله چې حضرت عمر رضي الله عنه د خلافت په مسند کیناست، د لومړی خطبی په باب یی ابن سعد د شداد په حواله وایی: عمر رضي الله عنه ممبر ته وخوت او دا الفاظ یی وویل: «یا الله! زه سخت یم، ما نرم کړی! یا الله زه ضعیف یم، ما ته قوت راکړی! یا الله زه بخیل یم، ماته سخاوت راکړی!».

د حضرت عمر رضي الله عنه دغه دعا الله تعالی قبوله کړی وه او د خلافت په دور کی د دومره نرم زړه څښتن شو چی پخپلو رعایاؤ کی هیچا دده په باب شکایت نه دی کړی چی عمر رضي الله عنه زما سره سختی کړی ده او یا یی را سره ظلم کړی دی. الله تعالی ورته دومره قوت او جرئت ورکړی ؤ چی د خپل رعیت نگرانی او پالنه یی هم په ښه شان اجرا کړه او هم یی دومره فتوحات وکړل چی هیڅ تاریخي ساری یی نه لیدل کیږی. د خپل خلافت په دوره کی دومره سخی ؤ چی له بیت المال څخه یی هر چاته خپل حق پوره پوره رسولی ؤ.

بیهقي د حسن رضي الله عنه په حواله د عمر رضي الله عنه لومړی خطبه داسی بیانوی: عمر رضي الله عنه د الله تعالی له حمد وثناء وروسته وویل چی «زما خلیفه کیدل د الله تعالی له طرفه ستاسو په باره کی په ما امتحان دی او زما په باره کی پر تاسو امتحان دی، که اوس څوک حاضر وی د هغوي سره به ملاقات کوو او په غایبینو به داسی امیران مقررو چی هغه پرهیزگار او امانت دار وی، که چا زمونږ سره احسان وکړ، مونږ به ورسره د هغه نه زیات احسان کوو او که چا خلاف وکړ، هغه ته به سزا ورکوو، الله تعالی دی مونږ او تاسو ته بخښنه وکړی!» د عمر رضي الله عنه ددی خطبي د اولیت په باب کنز العمال هم ذکر کړی دي.

د عمر رضي الله عنه په دی خطبه کی یو ډیر اهم ټکی ته اشاره شوی ده، هغه دا چی په کومه سیمه چی زه حاکم او امیر مقرروم، هغه به پرهیزگار او امانتدار وی، که چیری سرغړونه وکړی د معزول کیدو مستحق به وی. که د افغانستان او یا نوری اسلامي نړۍ موجوده

وخیمې او بحراني وضعې ته وګورو د رعیت د بدبختۍ اصل نقاط یې دادي چې حاکمان او امیران یې په‌دغو صفاتو مجهز نه دي. او دکار ځای د اهلو پځای نا اهلو نیولی دی.

ابن عساکر د محمد بن زید څخه نقولی وایي چې یو وخت حضرت علی، عثمان، زبیر، طلحه، عبدالرحمن بن عوف او سعد رضي الله عنهم را جمع شول، عبدالرحمن بن عوف ته یې وویل: چې تاسو د عمر رضي الله عنه سره دا خبره وکړئ چې ستاسو خواته حاجتمند راځي او ستاسی څخه د هیبت او ویرې په وجه د خپل حاجت او ضرورت اظهار نشي کولي، عبدالرحمن بن عوف رضي الله عنه دا خبره عمر رضي الله عنه ته ورسوله. هغه ورته وویل: چې آیا دا خبره خو تاته عثمان، علي، زبیر، طلحه او سعد (رضي الله عنهم) نه ده کړې؟ عبدالرحمن بن عوف رضی الله عنه ورته وویل: هو! عمر رضي الله عنه سوګند وکړ چې زه د خلکو سره دومره نرم شوم چې پخپل دومره نرموالی می د الله تعالی څخه ویره وشوه، بیا می سختی وکړه، تر دي چې د خپل سختوالی په وجه د الله تعالی نه وویریدم. نو اوس ماته د خلاصون لار وښایه! عبدالرحمن بن عوف رضي الله عنه پاڅیده او ویې ژړل.

همدا رنګه ابن عساکر د ابن عباس رضي الله عنه نه نقلوی وایی کله چې عمر رضي الله عنه خلیفه شو یو سړي ورته وویل: نژدی ده چې خلك تا له دی کاره لری کړي. عمر رضي الله عنه ورته وویل: هغه څنګه؟ سړي ورته وویل: چې ته سخت یې! عمر رضي الله عنه وفرمایل: «الحمد لله الذي ملأ قلبي رحماً و ملأ قلوبهم رعباً» یعني ثناء هغه ذات لره ده چې زما زړه یې د رعیت په باره کی د رحم نه ډك کړی دی او ددوی زړونه یې زما د رعب نه ډك کړي دي.

د خلافت شورائی نظام:

څرنګه چې اسلام یو اجتماعي دین دی نو د خلافت او حکومت لپاره پکی شورائی نظم ته یوه ځانګړې پاملرنه شوی ده او شورا په کی یو ځانګړی ضرورت ګڼل شوی دی. د شورا نظام د اول ځل لپاره د ابوبکر صدیق رضي الله عنه د خلافت په دور کی را منځته شو. ابن سعد دقاسم (رضي الله عنه) نه نقلوی چی د ابوبکر صدیق رضي الله عنه د خلافت په دور کی به چی کومه مسئله منځته راغله نو شورا به د پیښی مسئلی په باب مشوره کوله او مسایل به یی حل وفصل کول. دابوبکر صدیق رضي الله عنه دخلافت په دور کی چی کومه شورا موجود وه په هغي کی عمر، عثمان، علي، عبدالرحمن بن عوف، معاذ بن جبل، ابي بن کعب او زید بن ثابت رضي الله عنهم د غړو په شکل مؤظف وو. د لومړی خلیفه له وفات وروسته حضرت عمر رضي الله عنه هم همدغه شورا د خپل خلافت په دور کی برحاله وساتله.

د عمر رضي الله تاریخي فتوحات:

حضرت عمر فاروق رضي الله عنه د اسلام ستر مجاهد او فاتح انسان ؤ چی د حضور صلی الله علیه وسلم سره یی په ټولو غزواتو کی شمول کړی دی او د اسلام د سر لوړی لپاره یی هر وخت د خپلی بهادری او میړانی مظاهره کړی ده. د بدر، حنین، احد غزاګانی یی د شجاعت او میړانی یو ښه ثبوت دی.

د عمر رضي الله عنه د خلافت دایره دده د بی ساری قربانی او همت په برکت د نړی په ۲۵ لاکه

مربع میل مساحت باندی خوره شوی وه. دعمر رضي الله عنه د خلافت دوره په اسلامي تاریخ کی یو روڼ او روښانه باب دی، د عمر رضي الله عنه د خلافت حدود ختیځ ته تر ترکستان ، افغانستان، او مکران او شمال ته د خزر د بحیري، ختیځه اناطولیه او د روم تر بحیری پوری، لویدیځ ته د مصر، بلاد النوریه او سوډان او جنوب ته د عربو تر بحیری غزیدلی وه.

په څوارلسم هجری کال دمشق څه په جنګ او څه په سوله ایز ډول فتح شو، په همدی کال حمص، بعلبك، په سوله او بصره او الأیله په جنګ فتحه شول. په پنځلسم هجری اردن په جنګ او طبر په سوله او قادسیه او یرموك هم فتحه شول. په شپاړسم هجری کی الأهوزاء، مداین، جلولا او تکریت فتحه شول. په همدی کال عمر رضي الله عنه بیت المقدس ته لاړ او بیت المقدس یی فتحه کړ، همدا رنګه قنسرین، حلب، انتاکیه، منبج او قرقسیا د عمری خلافت په دایره کی راغلل. او د همدي کال د ربیع الأول په میاشت کی هجری تاریخ ته رسمي بڼه هم ورکړل شوه.

په (۱۷) هجری کی عمر رضي الله عنه د نبوی مسجد پراختیا وکړله او یوه بده پیښه چی پدی کال را منځته شوه قحط ؤ. په (۱۸) هجری کی جندیسابور په سوله او حلوان په جنګ، الرها او سمیساط په جنګ، حران، نصیبین او د الجزیری څه برخي او همدا رنګه الموصل شاوخوا سیمی فتحه شوی. په (۱۹) هجری کی قیساریه په جنګ فتحه شوه. په (۲۰) هجری کی مصر، سکندریه او تستر فتحه او د روم قیصر هلاك شو. په همدی کال عمر رضي الله عنه د خیبر او نجران څخه یهودیان جلا وطن کړل او خیبر تقسیم شو. په (۲۱) هجری کی نهاوند په جنګ فتحه شو، په (۲۳) هجری اذربایجان، دینور، ماسبدان، همدان، لویدیځ طرابلس، عسکر او قومس فتحه شو. په (۲۳) هجری کرمان، سجستان، مکران، اصفهان او شاوخوا سیمی د عمري خلافت برخي وګرځیدلی.

لنډه دا هغه سیمی چی په فاروقي دور کی فتحه شوی دی اوس پری دغه اسلامي هیوادونه لکه سوریه (شام) مصر، لیبیا، فلسطین، لبنان، عراق، اردن، سعودي عربستان، افغانستان، ایران، عمان، متحده عربي امارات، جنوبي یمن، عدن، د پاکستان د بلوچستان صوبه، اذربایجان، ازبکستان، تاجکستان، ترکیه، سوډان، بحرین او کویټ دی.

حضرت عمر فاروق رضي الله عنه د دیارلسم هجری کال د جمادی الثاني د میاشتی په (۲۲) نیټه د خلافت په مسند مقرر شوی ؤ او په (۲۳) هجری د ذي الحجي د میاشتی په (۲٦) نیټه پداسي حال کی چی د سهر په لمانځه ولاړ ؤ د یو تن مجوسي چی «ابو لولو» نومیده په زهری چاړه په خیټه مبارکه دری چړی وواهه او بي هوشه پریوت. یو شیبه وروسته ورته هوش راغي او عبدالرحمن بن عوف رضي الله عنه ته یي وفرمایل: الحمد لله ماته د یو کافر له لاسه د شهادت جام نصیب شو. هغه وو چی(۲٤) هجری کال د محرم الحرام د میاشتی په لومړی نیټه له فانی دنیا څخه رخصت شو. «إنا لله و إنا إلیه راجعون» د اُم المؤمنین حضرت عایشي رضي الله عنها په اجازت د نبي کریم صلی الله علیه وسلم په خوا کی دفن شو.

په اسلام کي بنيادي حقوق

دوهمه برخه :

د رسول الله (صلى الله عليه وسلم) حق:

په تيره گڼه کی مو د الله تعالی د حق په اړوند مختصر شان بحث وکړ او اوس غواړو د مخلوق په حقوقو رڼا واچوو، نو د مخلوق په حقوقو کی تر ټولو لومړی حق د رسول الله صلی الله علیه وسلم حق دی او له دغه حق څخه بل ستر حق د مخلوق په حقوقو کی نه بریښي. په دغه باب الله تعالی فرمائي:

«إنّا أرسلنك شاهداً و مبشرا و نذيرا* لتؤمنوا بالله و رسوله وتعزروه و توقروه و تسبحوه بكرة و أصيلاً-(الفرقان-٨-٩)

ترجمه: بیشکه مونږ لیږلی ئی ته (محمده) شاهد او زیری ورکوونکی او ویروونکی د دی لپاره چی ایمان راوړی تاسی په الله او په رسول او مدد وکړی د هغه د دین او تعظیم وکړی د هغه او الله ته نسبت د پاکی سبا او بیګا وکړی.

مونږته پکار ده چي د ژوندانه په ټولو چارو کي د حضور صلی الله علیه وسلم سره په خپل قول، فعل او عمل کي مینه اوخلوص وساتو، حتی د خپل پلار او اولاد نه هم زیات. ځکه د الله تعالی په نزد د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) سره مینه او محبت ساتل په ټولو زیات مقدم ګڼل شوی دی.

په دغه باب رسول الله (صلی الله علیه وسلم) فرمائي:

«لايؤمن احدكم حتى اكون أحب إليه من ولده و والده والناس أجمعين»

تاسو کی یو هم تر هغه د ایمان خاوند کیدی نشی تر څو ما له خپل اولاد، خپل پلار او د ټولو خلکو نه زیات محبوب او دوست ونه ګڼی.

د رسول الله صلی الله علیه وسلم په حقوقو کی هغه ته تعظیم، عزت او احترام کول شامل دی او تعظیم او احترام په داسی توګه پکار دی چی په هغی کی نه افراط وی او نه تفریط.

لکه څرنګه چی به صحابه کرامو د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) عزت او تکریم کولو او په خاصه توګه د هغه د څلورو یارانو په زړونو کی چی د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) لپاره کوم خلوص او مینه وه.

کله چی قریشو عروه بن مسعود ثقفی د «حدیبی» د صلح په لړ کی د نبی کریم صلی الله علیه وسلم سره د خبرو لپاره د هغه حضور ته واستولو، د خبرو نه وروسته کله چی هغه راستون شو نو وئی ویل:

«ما د ایران، روم او د حبشی د بادشاهانو په دربارونو کی برخه اخستلی ده. خو کوم احترام او تعظیم چی د محمد(صلی الله علیه وسلم) ملګری ئی د هغه په مقابل کی لری، د یو بادشاه په مجلس کی می دغه ډول احترام او تعظیم ونه لید.

کله به چی محمد (صلی الله علیه وسلم)حکم وکړ نو هر یوه به دا کوشش کولو چی د هغه حکم پر ځای کړی.

کله به چی محمد (صلی الله علیه وسلم) د اودس کولو په غرض پاڅید نو هر یوه به دا کوشش کولو چی د اوبو په راوړلو کی له نورو نه وړاندی شی.

کله به چی محمد (صلی الله علیه وسلم) خبری کولی نو ټول به خاموشه ناست ووا و له ډیر ادب او احترام نه به ئی ښکته کتل».

دا ژ د حضور صلی الله علیه وسلم په مقابل کی د صحابه کرامو (رضی الله عنهم)د ادابو او احترام یوه نمونه.

سره له دی چی الله تعالی رسول کریم صلی الله علیه وسلم ته په فطری توګه خوش اخلاقه، نرم طبعیت او بی تکلفه خوبونه ورکړی و، ځکه که چیری د هغه په طبعیت کی سختوالی موجود وی نو ټول صحابه کرام (رضی الله عنهم) به تری تاله ترغی شوی وی.

د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) د حقوقو له جملی څخه یوه دا هم ده چی د رسول الله (صلی الله علیه وسلم)احادیث بغیر د کوم زیاتی او کمی نه په مکمل ډول نورو ته ورسول شی.

له کومو ځیزونو نه ئی چی منع فرمایلی له هغه نه پرهیز وکړی شی او د کومو ځیزونو په هکله ئی چی حکم فرمایلی هغه باید په ځای کړی شی او په دی پوره ایمان او کامل یقین وساتل شی چی د حضورصلی الله علیه وسلم ښودل شوی طریقی او هدایات اکمل دی او د هغه شریعت له ټولو شریعاتو څخه ښشپړ او مقدم دی او د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) د ښودل شوی قانون په مقابل کی ټول دنیوی قوانین منسوخ او حرام دی.

الله تعالی فرمائی:

«فلا وربك لا یؤمنون حتی یحکّموك فیما شجر بینهم ثم لایجدوا فی أنفسهم حرجاً مما قضیت ویسلموا تسلیماً»

(سورة النساء-٦٥)

ترجمه:قسم دی په رب ستا! تر هغه دوی نه مومنان کیدی تر څو چی منصف نه کړی تا په هغه جګړه کی چی پیښه شوی د دوی منځ کی، بیا ونه مومی دوی په خپلو زړونو کی خفګان او ناراضی له هغه ځیز نه چی فیصله کړی وه تا او وئی نه منی دوی بی له جګړی په خوښۍ سره.

بل ځای الله تعالی فرمائی:

«قل إن کنتم تحبون الله فاتبعونی یحببکم الله و یغفرلکم ذنوبکم والله غفور رحیم» (العمران-٣١)

ترجمه: ووایه ای محمده! دوی ته که چیری تاسی محبت کوئ له الله سره نو متابعت وکړئ زما چی محبت به وکړی الله له تاسی سره او مغفرت به وکړی ستاسی د ګناهونو او الله مغفرت کوونکی دی د خطایاتو، ډیر رحم ولا د اجر او ثواب په انعام سره.

له دی قرآنی آیاتونو نه څرګندیږی چی که څوك د خپل رب او حقیقی مالك د محبت دعوی کوی نو پکار ده چی د الله تعالی د بر حق رسول (صلی الله علیه وسلم) متابعت په ریښتینی او صداقت سره وکړی او د اسلامی شریعت رڼا د خپلی لاری مشعل وګرځوی .

په کومه اندازه چی د الله تعالی په محبت او مینه کی صادقت وی په هم هغه اندازه دی د محمد(صلی الله علیه وسلم) په شریعت او پیروۍ کی ریښتینی او ټینګ پاتی شی.

د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) په حقوقو کی دا هم شامله ده چی ته به د هغه له شریعت او هدایت نه په کلکه دفاع کوی، که د حالاتو او واقعاتو تقاضا ته توری او ټوپك ته مجبور کړی نو د خپل ټول قوت سره به د هغی نه دفاع کوی.

که دښمن د دلائلو او شبهاتو مقابله کوله نو د علم او پوهی په ذریعه به تری دفاع کوی. لنډه دا چی مومن ته په هیڅ حالت کی لازمه نه ده چی د محمد(صلی الله علیه وسلم) په شریعت او د هغه په مبارك ذات دی څوك تیری او تجاوز وکړی او هغه دی په مقابل کی خاموشه او قلاره پاتی شی، بلکه د خپل وس او توان په اندازه دی تری نه دفاع او ملاتړ وکړی.

(نوربیا)

اسماعیلیت څه ته وائی؟

لیکنه: شهاب الدین

دځمکی په مخ دوه ډوله خلك ژوند کوی چی یو ئی مذهبی او بل ئی سیکولر یعنی دهري قوتونه دی. څرنگه چی مذهب د بشر لپاره یوه روحی او عقیدوی اتکا گڼل کیږی نو له دی امله که مذهبونه هر څومره وی حق وی که باطل خو د هر مذهب پیروان او مقلدین د یو ښه مستقبل په طمعه خپل مذهبی مراسم سر ته رسوی.

خو ددی تر څنگه سیکولر قوتونه یواځی په دنیوی ژوند یقین لری او بس.

ډلی او فرقی د هر مذهب یوه طبعی مسله ده چی هره ډله د خپل مذهب نه د خپلی نظرئی اخذ کوی او هغه نظریه بیا په خپل عمل کی پلی کوی.خو دهری ډلی حق او باطل د خپل مذهب په کنډه معلومیږی.

نن سبا په نړۍ کی مختلفی عقیدوی فرقی په ډول ډول فعالیتونو بوختي دی چی له دی جملی نه یې یوه اسماعلی فرقه د دی مضمون اساسی ټکی دی چی د نړۍ په مختلفو سیمو کی او په ځانگړی توگه په پاکستان او افغانستان کی خپلو فعالیتونو ته خاصه پاملرنه گرځولی نو له دی وجی نه ددی سلسلی لړی بحث مو ددی نه شروع کړو چی دا فرقه کله پیدا شوه؟ د دوی په داخل کی څو ډلی دی؟ عقیده او مرام ئی څه دی؟ د دوی شمیره په نړیواله سطحه څومره ده؟ په کومو فعالیتونو بوخت دی؟ او د اسلامی نړۍ علمأ د دوی په باب څه فتوی او نظر ساتی؟

اسماعلی فرقه یوه باطنی فرقه ده چی د دوی لمړنی بانی محمدبن اسمعیل بن جعفرالصادق بن محمد بن علی بن حسین بن علی بن ابی طالب دی. چی په کال ۱۳۱ هجری کی پیدا شوی او په کال۱۹۸هجری کی وفات شویدی.

بیا دا فرقه په مختلفو ډلو وویشل شوه چی د هغوی د مشرانو نومونه او د هغوی ځینی عقیدی په لاندی ډول دی.

۱- اسماعلیه قرامطه:

دا ډله حمدان قرمط بن الاشعث ته منسوبه ده، د دی ډلی خفیه دعوت اول عبدالله بن میمون القداح په کال۲٦۰هجری کی په جنوبی فارس کی پیل کړ او له دوی وروسته بیا ددی ډلی د جهری دعوت لړۍ بحرین او شام ته سرایت وکړ چی وروسته له دی په کال ۲۷۸هجری کی د کوفی شا او خوا، احساء، بحرین، بصری او یمامی ته وغزیده.

د دوی عقیده یوه اشتراکی عقیده وه او هم ئی د اسلام د اساسی احکامو لکه کلمه طیبه، روژه، لمونځ، زکات، حج او داسی نورو د لغوه کولو لاره خپله کړی وه.همدارنګه د یوم المیعاد (قیامت) د جنت او دوزخ او د ثواب او د عذاب نه منکر وو او هم ئی دا عقیده وه چی علی رضی الله عنه عالم الغیب دی.«نعوذبالله من ذالك».

۲- اسماعلیه فاطمه:

دا ډله اصلی اسماعلیه ده او په دوی باندی مختلف دوورونه راغلی دی.

دا فرقه د محمد بن جعفر الصادق له مرګ نه وروسته د ورکیدلو په حال کی شوه خو وروسته د عبیدالله المهدی او حسن بن خوشب په دعوت یو ځل بیا را ژوندی‌شوه او دا په کال ۲٦٦هجری کی په یمن کی د فاطمیه ؤ د حکومت په دور کی د حسن بن خوشب په مشری ددی عقیدی دعوتی اغاز یو ځل بیا پیل شو او وروسته له دی تر شمالی افریقا پوری د دوی سلطه اوږده شوه.

له دی وروسته عبیدالله المهدی ددی دعوت سلسله په سوریه (شام) کی شروع کړه خو د څه مودی نه وروسته بیا شمالی افریقا ته لاړ د افریقا په المهدیه (تونس) کی یی د اسماعلیو حکومت تاسیس کړ او هم هلته په کال ۳۲۲هجری کی مړشو.

د عبیدالله المهدی نه وروسته د همدغه حکومت د چلولو اووم خلیفه «ابوتمیم» مستنصر بالله چی په ٤٨٧ هجری کی مړ شو. د هغه دوه ځامنو نزار او مستعلی چی د خلافت په وجه ئی اختلاف پیدا شو د اسماعلیو فاطمه فرقه یی په دوو ډلګو تقسیم کړه چی یوه ئی په نزاریه شرقیه او بله ئی په مستعلیه غربیه ونومول شوه د اسماعلیو له تقسیمیدو وړاندی د دوئی د حکومت حدود تر افریقا، مصر، حجاز، یمن، او شام پوری غزیدلی وو بیا د دوی دغه وسیع حکومت د صلاح الدین ایوبی په لاس سقوط وکړ.

۳-اسماعلیه حشاشیه:

دی ډلی د نزار بن مستنصر بالله بیعت ته دعوت ورکاو او مشری ئی‌حسن بن صباح په غاړه وه، دا ډله ځکه په حشاشیو معروفه وه چی چرس به ئی استعمالول دا فرقه په ایران کی ډیره خپره شوه حتی تردی چی د بحرقزوین په جنوب کی په قلعه الموت باندی دوی سلطه حاصله کړه او د خپل دولت لپاره یې دارالخلافه وګرځوله. د دوی عقیده وه چی هر شی جایز دی او په حقیقت کی هیڅ ناجایز شی وجود نلری.

د دوی د ډیرو قباحتونو له جملی نه یو دا هم دی چی د دوی څلورم خلیفه د قیامت د ورځی اعلان هم کړی او اسلامی شریعت ئی لغوه کړی وو د دوی د قباحتونو عروج تر دي حده رسیدلی ؤ چی اخلاقاً لازم نه ګنو چی د دی دغه فاسدی عقیدی او اعمال ذکر کړو.

د دوی د خلافت تخته په ایران کی د هلاکو مغولی او په سوریه کی د ظاهر بیبرس په لاس نسکوره شوه.مګر اوس ئی هم پیروان په ایران، سوریه، هند او منځنی اسیا کی خال خال لیدل کیږی.

(٤) د شام اسماعلیه:

دی فرقی دومره شهرت نه درلود او دوی هم د نزار بن مستنصر بالله بیعت ته دعوت ورکاړ د دی فرقی کوم حکومت

دوی عقیده لری چی آغا خان مالک د هر شی دی یعنی په اسمانونو او زمکه کی او یا ددی تر منځ چی هر څه دی دا ئی متصرف دی او هم مالک د خیر او شر دی او حاکم دی په ټول عالم باندی «نعوذ بالله من ذلک».

ندی قایم شوی او د دوی له مشرانو څخه یو (راشدالدین) ؤ چی په شیخ الجبل مشهور ؤ. د دی فرقی خلك په سوریه، خوابی، قدموس او کهف کی هستوګن وو.

(٥) اسماعلیه البهره:

بهره د پخوانۍ هندی ژبی لفظ دی چی د تاجر په معنی دی د دی فرقی خلك اکثر تجاران وو او د مستعلی بن مستنصر بالله ډلی ته ئی ځان منسوبوو چی دا ډله بیا په دوو ډلګیو تقسیم شوه چی اوس هم په هند او یمن کی میشته دی.

(٦) اسماعلیه واقفه:

دا ډله اوس هم د محمد بن اسماعیل د امامت په انتظار ده او عقیده لری چی محمد بن اسماعیل بیا راتلونکی دی.

(٧)اسماعلیه اغا خانیه:

دا فرقه له نورو نړۍ سره سره په پاکستان او افغانستان کی فعلاً موجوده ده، ددی فرقی ابتدأ د لومړی ځل لپاره د نولسمی پیړۍ په اوائلو کی په ایران کی و شوه چی لمړنی مشر ئی حسن علی شاه نومیده او په اول آغا خان سره مسمیٰ ؤ. حسن علی شاه ته د اغاخان لقب د انګریزانو له خوا ورکړی شوی ؤ او هم انګریزانو دی خپلو مقاصدو لپاره په یو عقیدوی شکل استعمالوو.

حسن علی شاه چی کله په ١٨١٨ میلادی کی مړ شو ددی نه وروسته دا منصب آغا علی شاه په غاړه واخیست چی دی ته دوېم اغا خان ویل کیده کله چی دی هم په ١٨٨٥ میلادی کی مړ شو ددی ځوی محمد الحسینی ددریم اغاخان په نوم د خپل پلار پر ځای وټاکل شو او په ١٩٥٧ میلادی کی مړ شو.

ددی د وصیت سره چی د خپل لمسی کریم آغا خان په حق کی ئی کړی ؤ، ددویی د خلافت قاعده ماته شوه او د ځوی پر ځای لمسی ته خلافت وسپارل شو.

کریم آغا خان ددوی په اصطلاح د آغاخانیانو څلورم خلیفه دی د علوی کورنی سره تلعقات لری او ١٩٥٧میلادی کال را په دیخوا . د اسماعلیانو رهبری په غاړه لری او په امریکا کی تحصیلات کړیدی څرنګه چی کریم آغاخان په نړیواله سطحه یوه سرمایداره هستی ګڼل کیږی نو ددی وجی نه د اسماعیلی تحریك د پرمختګ او ترویج لپاره خپله سرمایه پکار اچولی او خپل هدف ته د رسیدو په لاره کی د هری حربی نه کار اخلی.

د آغاخانی فرقی ځینی مفسد عقائد:

(١) د کلمه توحید پر ځای دویٔ دا کلمه وائی: اشهد أن لا إله إلا الله و اشهد أن محمد رسول الله و أشهد أن امیر المؤمنین علی الله.

(٢) دوی عقیده لری چی آغا خان مالك د هر شی دی یعنی په اسمانونو او زمکه کی او یا ددی تر منځ چی هر څه دی دا ئی متصرف دی او هم مالك د خیر او شر دی او حاکم دی په ټول عالم باندی «نعوذ بالله من ذلك».

(٣) دوی د اسلامی شریعت د متابعت په ځای د آغاخان متابعت لازم ګڼی او وائی چی آغا خان پخپله قرآن ناطق او قرآن حقیقی دی او همدا رنګه آغا خان کعبه هم ده او بیت معمور هم او له ده پرته د بل اتباع جائز نده د بیلګی په توګه دکتور محمد کامل حسین وائیٔ چی ما د آغا خان نه پوښتنه وکړه چی ته څرنګه پدی راضی یی چی دا خلك ستا عبادت کوی او تاته اله وائی؟ نو و یی خندل او راته یی وویل په هند کی د غوا عبادت کیږی نو آیا زه د غوا نه غوره نه یم....؟

(٤) دوئی عقیده د فرضیت د لمونځ نلری بلکی د لمانځه په ځای دری دعاګانی فرض ګڼی.

(٥) د جومات پر ځای دوی یو بل ځای چی هر رنګه فحشاء پکی تر سره کیږی خپل معبد ګڼی او د جماعت خانی په نوم یی بولی.

(٦) د زکاة په فرضیت دوی تایل نه دی بلکی پخپله خوښه د خپلو مالونو لسمه برخه آغاخان ته ورکوی او دغی لسمی برخی مال ته «دوشند» وایی.

(٧) د روژی د فرضیت څخه منکر دی.

(۸) د حج د فرضیت څخه منکر دی.

(۹) د السلام علیکم پر ځای له یو بل سره د مخامخ کیدو په وخت کی (علی مدد) او د وعلیکم السلام پر ځای (مولی علی) کلمات استعمالوی.

زمونږ په گران هیواد افغانستان کی د اسماعیلی فرقی عقیدمن د بامیانو او بدخشان په ولایتونو او همدا رنگه د واخان په سیمه کی هستوگن دی او ویل کیږی چی یوازی په واخان کی ددوی شمیره په سلو کی له شپیته نه زیاته ده او فعلاً یی مشری سید جعفر نادری کوی.

په پاکستان کی په زیاته پیمانه په چترال، گلگیت، کراچی، لاهور، اسلام آباد، راولپنډی، سکر، حیدر آباد او لږ-کانه کی آباد دی. سر بیره پردی د افریقا د یوگنډا په زرگونو مهاجر شوی اسماعلیان هم د پاکستان د کراچی په ښار کی میشته دی.

د آزاد اسماعیلی ریاست لپاره د روسیی او برطانیی خفیه منصوبه:

په ۱۹۸۰ میلادی کال کی د افغانستان د واخان سیمه د ځینو کفری قوتونو په خوښه په روسیه کی شامل کړه او دا ستراتیژیکه سیمه چی په جغرافیایی لحاظ له روسیی، چین او پاکستان سره سرحدی پولی لری ډیره مهمه وه، نړیوالو کفری قوتونو ددی آزاد اسماعیلی ریاست د منځته راوړو لپاره واخان مرکز تعین کړ او ددی لپاره روسیی په واخان کی یوه وړه هوایی آډه، ټیلفون، ټیلکس او د مواصلاتو نور وسایط نصب کړل.

اسماعیلی سر مشریزه چی د برطانیی او روسیی سره پخی او ډیری خفیه اړیکی لری پدی مجبور کړل چی د اغاخاني اسماعلیانو لپاره یو آزاد اسماعیلی ریاست منځته راوړی او ددی ریاست په نقشه کی د افغانستان واخان، د پاکستان گلگیت، حنزه، آزاد کشمیر او چترال او د چین د سنکیانگ ایالت شامل دی. ددی آزاد اسماعیلی ریاست مالی مرستی د برطانیی حکومت او ځینی نورو کفری قوتونو په غاړه اخیستی وی او د ملگرو ملتو په اداره کی یی د صدرالدین آغاخان ته د افغانستان د فنډ په بهانه مالی مرستی ورکولی.

په پاکستان کی اسماعیلی اداری:

وړاندی مو ولوستل چی د اسماعیلی عقیدی د ترویج لپاره تر ټولو لویه وسیله سرمایه استعمالیږی، د دی د ښه وضاحت لپاره هغه اداری چی په پاکستان کی په فعالیت بوختی دی نومونه اخلو:

۱- مسلم کمرشل بینك

۲- اغاخان طبی کمپلکس - کراچی

۳- اغاخان طبی کالج -کراچی

٤- اغاخان چترال پراجیکټ

٥- فاطمید بلډ فاونډیشن- پیښور

٦- د پاکستان په مختلفو پوهنتونونو کی د محصلینو د لیلیو پروگرام.

٧- د پاکستان په کراچی، پیښور، گلگیت، چترال او داسی نورو علاقو کی روغتونونه، ښوونځی، طبی مرکزونه، سرکونه او پلونه جوړول.

٨- سرینا هوټل- کویټه او سرینا هوټل سوات منگوره.

د اغاخانی اسماعیلی فرقی په باب د سعودی عربستان د علماؤ فتوی:

هر هغه څوك چی دغه ډول عقاید ولری لکه څنگه چی یی وړاندی یادونه شویده مطلق کافر دی او ددوی کفر د قرآن پاك مدلل ثبوتونه دی. قرآن مجید ددوی هره قبیحه عقیده او نظر په صراحت سره تشریح کړی ده.

ددی عقیدی په لرونکو مړو لمونځ (جنازه) کول جایز نهِ دی او هم د دوی مړی د مسلمانانو په هدیرو کی دفن کول جایز نه دی، ددوی څخه منکوحه کول جایز نه ده، ددوی ذبحه یا حلاله جایز نه ده او د دوی سره د مسلمان هیڅ معامله جواز نلری.

خدام الدین با مجله دعوت،

ولایت نورستان تا هنوز از نظر تشکیلاتي مشکلات متعددي دارد

محمد رستم خدام الدین ولسوال کامدیش ولایت نورستان در طي یک مصاحبه گفت:

شورا جهادی سه دره نورستان متفقاً با مرکز مراجعه کرده و برای بهبود و سهولت اهالی از قبیل امور زراعتی، مالداری، انکشافی و غیره از دولت اسلامی افغانستان خواهان یك ولایت مستقل نورستان شده بود که در نتیجه دولت اسلامی بعد از طی مراحل وصولی و سهم آن در جهاد مقدس مردم نورستان با درجه ولایت منظور نمود.

ولسوال کامدیش پیرامون وضع امنیتی ولایت گفت: وضع اداری نورستان به صورت کل زمانیکه والی نورستان محترم نکروال در منطقه پارون مقر ولایت را تعین نموده بعد از مراسم افتتاح ولایت شروع با کار نموده، والی موصوف و پرسونل ولایت ولایتی همیشه با مکتوبات رسمی با مراجع مربوط وزارت خانه ها داخل تماس بوده تا ولایت موصوف از نگاه پرسونل اداری و بودجوی اکمال گردد ولی تا هنوز طوریکه لازم است با خواستهای ولایت جواب داده نه شده است.

وی افزود اکثر مامورین این ولایت معاشات خود را بدون اینکه مقام ولایت در جریان باشد معاشات خود را اخذ مینماید، ناگفته نه باید گذاشت که بعض از آنها معاشات خود را خود شان تعین نموده است و معاشات و امتیازات متباقی مامورین ایکه در مقر ولایت ایفاء وظیفه می نماید به وقت و زمان داده نه می شود.

ولسوال کامدیش گفت:

چند نفر مغرض که از طرف دولت اسلامی معرفی گردیده بدون اینکه معاشات و امتیازات شان ارسال و در نظر گرفته شود مصارف تعمیر ولایتی نیز به عهده والی جدید حواله شده است که مردم نورستان از همچو اغفال متاثر میباشد که سبب ایجاد اختلافات میگردد.

وی افزود ولسوالی کامدیش بدون پرسونل کافی با کارهای اداری خود ادامه داده است. باید گفت قوماندانی امنیه این ولایت با پرسونل امنیه خویش از افتتاح ولسوالی تا حال با وظیفه خود حاضر نه گردیده، قرار معلومات معاشات و امتیازات خود را از مرکز کابل بدون موافقه ولسوالی اخذ می نماید که این رویش موجب و سبب انتقاد شدید ولسوالی کامدیش گردیده است.

ولسوال کامدیش وضع امنیتی مطلوب خوانده گفت:مسئله امنیتی در مربوطات ولسوالی کامدیش بهتر بوده و حتی الامکان برای امنیت منطقه کوشش می نمایم و همچنان وضع اداری نیز روز به روز خوبتر شده می رود.

موصوف در باره یك سوال دیگر در پاسخ چنین گفت: مردم کامدیش با همکاری ولسوالی از مدت بااین طرف کوشش دارند در حصه قطع جنگلات که یك سرمایه ملی و منطقوی می باشد جلو گیری تاعمل آورد در این رابط شخصاً اینجانب با شورا منطقه داخل تماس بوده انشاءالله در مدت کمی عاملین قطع جنگلات مانع و در صحنه عمل پیاده نمایم.

ولسوال کامدیش افزود در حصه دعوت مردم باید بگویم که همیشه مسایل دینی و اجتماعی بگوش مردم آن ولسوالی رسانیده شده حتی المقدور کوشش به عمل می اید تا جلو مفاسد اخلاقی با اسرع وقت گرفته شود.

دعوت ما با نیکی در منطقه جریان داشته که انشاءالله با رفع مشکلات اقتصادی و اجتماعی آن ولسوالی پروسه دعوت و تبلیغ نیز همزمان باپیش برده خواهد شد.

دسرطان علاج ممکن دی
(Cancer)

ليك:لعل محمد افسوس

په ورروسته پاتی ټولنو کی د سرطان ناروغي لکه د ایډز د ناروغۍ غوندی خطرناکه او خواشینوونکی مشهوره شوی ده. دا ناروغي په پښتنو کی د «ناسور» په نوم یادیږی. که څوك په دی ناروغۍ اخته شوی وی له خپلو پردو څخه ورته اکثره دا مشوره ورکړل شی چی «ددی په علاج هسی پیسی مه لګوئ ددی علاج نه کیږی» خو نه داسی نه ده، دسرطان علاج تر ممکنه حده کیدی شی او د ایډز په ردیف کی نشی شمیرل کیدی.

دا یو حقیقت دی چي سرطان هم یوه مهلکه ناروغي ده او په نړیواله سطحه هر کال په لکونو انسانان له ژوند څخه استعفئ ته مجبوروی. د سرطان ناروغي تقریباً دوه سوه ډولونه لری مگر بنیادی عامل یی په ټولو کی شریك او یو شان دی، هغه دا چی دانسانی جسم ځینی کری (cells) په دی ناروغي کی د کنټرولولو له نظام څخه بی قابو کیږی او په ډیرو برخو تقسمیږی چی په نتیجه کی د انسان ددفاعي نظام دکمزوری کیدو سبب ګرځي او د کنټرول نظام له منځه وړی. دا عمل تکثر کوی او د بدن په هره برخه کی د یوی داني (غوټي) او (Tumor) شکل اختیاروی، په دی کی ځینی داني او غوټي بې خطره وی مگر ځینی یی د خطر لرونکی وی، دا دانی او تومورونه د بدن نورو صحتمندو غړو ته زیان رسوی. که چیری په وخت تشخیص او تداوی نشي، نور بدن ته سرایت کوی، دغه ډول تومور ته سرطان ویل کیږی.

لکه څنګه چی وویل شول سرطان دانسان د بدن په هره برخه کی په هر غړی حمله کولی شي، له وړوکوالی نه تر پیریٔ پوری په هره مرحله کي راتلی شي مگر د صحي راپورونو په استناد له (۳۰) کلنی څخه وروسته یی امکانات زیات لیدل کیږی.

دسرطان اسباب او عوامل:

د سرطان یا کینسر ناروغي مختلف اسباب او عوامل لری مگر دغه ټول اسباب او عوامل د صحي څیړنو له مخی په دوه ډوله تقسیم شوی دی. چی یو یی خراب چاپیریال او بل یی موروثي وجوهات ګڼل کیږی.

نن وخت ددی عواملو څخه په وراثتي عواملو باندي ساینس پوهانو او طبي ماهرینو په کافي اندازه تحقیقات او څیړنی کړی دی او لګیا دی نور هم پر مختګ کوي. دا ماهرین په دی فکر کی دی چی د بدن د کرویو د کنټرولولو نظام ولی خرابیږی او ولی له کنټرول نه وځی چی د سرطان سبب ګرځي؟ طبي څیړنو پدی هکله ډیر کار کړی دی او دی نتیجې ته رسیدلی دی چی دا کومه ځانګړی وجه نه بلکي ډیری وجي لری. په ځینو خلکو کی د ناقص جین څخه پیدا کیږی او په ځینو نورو کی بیا د دفاعي نظام د کمزوری کیدو له امله منځته راځي.

د سرطان بل موجب چی خراب چاپیریال دی، پدی باب داسی فکر کیږی چی دا عامل په ټولنه او افرادو پوری تړلی ده. مثلاً د هستوګنی د چاپیریال فضا، هوا، خوراك، اوبه، د

ژوند د تیرولو ډول او یو لړ عادتونه. دا داسی عوامل دی چی انسان کولی شی یا یی په ځانګړی ډول له منځه یوسی او یا یی په ټولنیز ډول د سمبنت کوښښ وکړی او دا یقینی خبره ده چی که سل په سلو کی نه وی نو په سلو کی (۹۰) خو د سرطان مخنیوی کولی شی. د سرطان ددی عواملو د له منځه وړلو لپاره لومړی فرد او ټولنی ته په دی اړوند پوهه ورکول یو لازمي قدم دی. څیړونکی وایی هغه ماحول او چاپیریال چی فضا او هوا ئی د صنعتي فابریکو لوګو او ګردونو ملوثه کړی وی یا د ځمکی پر مخ هغه کیمیاوی زهرجن تجربات چی ترسره کیږی، په هوا او اوبو تاثیر کوی او داسی شیان او ذرات پیدا کوی چی انسانی بدن تر اغیزی لاندی نیسی او دسرطان د جوړیدو سبب ګرځی. ځینی درمل، اتومی او الټراوایلټ شعاع ګانی، وایرسونه او همدا رنګه جنسی بی لاریتوبونه هم د سرطان عوامل شمیرل شوی دی.

په ورځني خوراک کی بی اعتدالی کول یعنی د ویټامین (A) او ویټامین (C) کمښت، د کاربوهایډریټ او غوښي زیاتوالی، د سبو او میوو کم استعمال او د ډیرو په سکرو پخلی کول هم د سینی او غټو کولمو د سرطان سبب ګرځي. همدا رنګه یو لړ عادتونه لکه تمباکو نوشی (سیګریټ، نسوار، چیلم، او پان) استعمال د سرطان بارز عوامل دی. چی ددی په استعمال سره د خولی، ژبی، مری، سږو، معدی او مثانی سرطان منځته راځي. شراب او الکولاید هم د خولی، ژبي، مری او معدی د سرطان اسباب دي.

په امریکا او اروپا کی د قلبي امراضو ورروسته سرطان په دوهمه درجه کی قرار لری، پدغو هیوادونو کی د سږو، سینو او کولمو سرطان ډیر لیدل کیږی همدا رنګه په ځینو اسیایي هیوادونو کی لکه افغانستان، پاکستان، او داسي نورو کی د ښځو په نسبت په سړو کی د سږو سرطان زیات لیدل کیږی. د یوی اندازی مطابق په پاکستان کی هر کال تقریباً دوه نیم لاکه خلك په سرطان اخته کیږی او اصلی وجه یی د هوا الودګی او سیګرټ نوشي ښودل شوی ده. په نړیواله سطحه د سیګرټ څکلو څخه (۳۰) نه تر (۳۵) فیصده پوری سرطان پیدا کیږی. همدا رنګه د ناقص غذائی سستم له امله له (۳۵) نه تر (۴۰) فیصده پوری د سرطان موجبات دی.

اعراض او علایم:

وړاندی وویل شول چی سرطان تقریباً دوه سوه اقسام لری او کومی ځانګړی نخښني نښانی لکه د ځینو ناروغیو نه لری چی په اسانی سره و پیژندل شی څکه داسی ډیري ناروغۍ شته چی نخښني نښاني یی سره ډیر ورته والی لری خو په هر صورت ددغو لاندینیو علایمو په مرسته کولی شئ چی ناروغي په وخت تر نظر لاندی ونیسی او ناروغي په لومړی مرحله کی کوم ماهر داکتر او نژدی روغتون ته د تشخیص لپاره واستوئ.

۱- د جسم په هره برخه او خصوصاً دښځو په سینو کی که غوټه یا تومور وی او په لومړیو مرحلو کي هیڅ درد او تکلیف نه لری.

۲-په تشو او ډکو متیازو کی له خپل معمول څخه تبدیلی راتلل.

۳- هغه خوږ یا زخم چی د علاج سره سره رغان نه کوی.

٤- د جسم له هری برخی چی وی، بلا وجه وینه یا زوه وتل.

٥- په آواز کی تغیر پیدا کیدل یا اوږد ټوخي چی له دوه دری هفتو څخه زیات شي.

٦- ناروغ اشتها (لوږه) نه لری او وزن بایلی.

۷- ناروغ بد هضمه وی او په خوراك کی تکلیف محسوسوی.

۹- او هغه تبه چي علت او وجه ئی معلومه نه وی.

تشخیص Diagnosis:

د سرطان صحیح تشخیص په ژور طبي او لابراتواری

معاینو (کتنو) پوری اړه لري، که پورتني نخښې نښاني په کوم ناروغ کې ولیدل شي باید بې له ځنډه روغتون ته ولېږدول شي چې پخپل وخت سره تداوي شي ځکه ددې ناروغۍ علاج په لومړنیو مراحلو کې له (۷۰) نه تر (۸۰) فیصده پورې ممکن دی او له دې وروسته یې د تداوۍ چانس ډېر کم لیدل کېږي.

په امریکا او نورو پر مخ تللو هیوادونو کې چې د ژوند سطحه لوړه ده، ددې ناروغۍ (۵۰) فیصده ناروغان تداوي کیږي او صحت مومي. خو متأسفانه چې د افغانستان د خلکو یو خو تعلیمي کمي دي او بل د ژوند سطحه ډېره ټیټه ده پدې لحاظ یې ناروغان تقریباً ټول له منځه ځي او یوه بله اهمه خبره چې باید یاده شي هغه «شرم» دی. یعنی اکثره خلك چې د غټو کولمو کوم تکلیف ولري، د شرم په وجه ډاکتر ته د معاینې لپاره ځان نه ښکاره کوي او یا کومې ښځې چې په سینو او یا نورو ځایونو کې دغه ډول تکلیف ولري هغه هم د ډاکتر د معاینې څخه اجتناب کوي. خو دا داسې عوامل دي چې په دې باید سوچ وشي ځکه چې دا د انسان د مرگ او ژوند سوال دی او یو کار چې مسلمان ته شرعاً جایز شوی وي باید شرم ته پکې ضرورت پیښ نشي. یو لړ خلك داسې هم وي چې که له پورتنیو نښنو نه پکې کومه ولیدل شي وایي چې کوم تکلیف تري نه محسوسوم نو د ډاکتر څه ضرورت دي؟ خو د سرطان تومور یوه داسې ناروغي ده چه په لومړیو مراحلو کې هیڅ تکلیف نه لري او د علاج لپاره یې دغه بې تکلیفه وخت کامیاب دي کله چې تکلیف پیښ شي دا داسې مراحل وي چې بیا پرې د علاج لاس نه بر کیږي.

تداوي Treatment:

د سرطان د تداوۍ او علاج لپار طبي ماهرینو څلور ډوله طریقې اختیار کړي دي : جراحي، ریډي ایشن تراپي، کیموتراپي او حیاتیاتي علاج.

۱- جراحي Surgery : د جراحۍ په مرسته طبي ماهرین کولی شي چې ماوفه برخه له جسم څخه قطع کړي او نور بدن ته د ناروغۍ د سرایت مخه و نیول شي.

۲- ریډي ایشن تراپي:

په دې ډول علاج سره شعاع گانې په ماؤفه برخه استعمالیږي تر څو د شعاع گانو په مرسته ماوفې کړېږي له منځه لاړې شي.

۳- کیموتراپي: پدې ډول طریقې سره سرطان د یو ډول خاصو درملو پذریعه تداوي کیږي.

٤- حیاتیاتي علاج: په دې ډول طریقې سره د بدن مدافعتي قوت زیاتول کیږي او د سرطان د له منځه وړولو کوښښ کوي.

د سرطان د تداوۍ لپاره کله پورتنې یوه، کله دوه او کله هم درې طریقې په کار اچول کیږي او د سرطان د تداوۍ لپاره نرې کار اخستل کیږي. د سرطان د علاج په لړ کې په نړیواله سطحه ساینس پوهان لگیا دي او نوې نوې تجربې کوي خو پدې وروستیو وختو کې د چین ماهرینو په دې اړوند یو څه اندازه تر نورو ډېر پرمختگ کړی دی.

احتیاطي تدابیر:

۱- له تمباکو او شرابو څکلو نه مکمل پرهیز.

۲- کوښښ وکړئ چې بدن غټوالي ته پرې نږدې او ددې لپاره په ورځني خوراك کې د غوړو شیانو او غوښې اندازه کمه کړئ.

۳- د اور په لمبه د پخو شوو شیانو او اچارو کم استعمال او ددې په ځای باید میوې، سابه، دال او لوبیا زیات وخوړل شي.

٤- هغه میوې او سابه چې ویټامین (A) او ویټامین (C) زیات ولري وخوړل شي.

په اسلامي او افغاني احساس د ملي وحدت تأمين د لانجو د غوځولو پربکنده وسيله ده

د مسؤلينو، قوماندانانو او د نظر د خاوندانو سره د مرکو په لړ کې په دې ګڼه کې د مجلې اختصاصي خبريال د کويټې د مشورتي جرګې غړي او قومي مشر ډګر جنرال علم شاه مومند سره مرکه کړې ده چې په لاندې متن سره وړاندې کېږي. (د مجلي خبريال)

پوښتنه: ولې په تيرو څلورو کالو کې افغان لانجه حل نشوه او د اسلامي حکومت په جوړولو کې موجود خنډونه لرې نکړې شو علت ئې څه دی؟

جواب: زما په نظر علت ئې دا دی چې زمونږ مشرانو د وحدت ځای دښمنۍ او تربګنۍ ته خوشې کړی دی. د ملي مصالحو په عوض ئې شخصي منافع مرجح ګڼلې دي او د افغاني تفاهم په عوض يو د بل سره د ټوپك په خولې خبرې کوي، هره ډله او هر تنظيم د خپل ځان دپاره سياسي او نظامي امتيازات غواړي او د ټولو نه خطرناکه ئې لا داده چې هره ډله خپله اردو او خپل نظامي تشکيلات لري او په هيڅ ډول ورسره د افغان شموله اسلامي حکومت د جوړولو اراده نشته دی او هر مشر د خپل پوځ سيوري لاندې د ليډرانو په نقش کې خپل خپل روايتي حکومتونه چلوي او همدا اوس ئې عملاً هيواد په سياسي او نظامي لحاظ په خپلو کې تقسيم کړی دی د هرې ډلې قلمرو معلوم دی چې يوه ډله په بلې ډلې نشي ورتلی او په خپلو کې يې ځانونه پردي کړي دي.

پوښتنه: څنګه کيدی شي اوسنی غير مجاز تشکيلات ختم شي او د ټولو په خوښه يو اسلامي نظام قايم شي، امن ټينګ شي او د تل د پاره جنګونه پای ته ورسول شي؟

جواب: دا ټول خپله د جهادي ډلو په اراده کې خبره ده که چيری رهبران وغواړي امنيت ټينګ کړي او اسلامي حکومت جوړ کړي د څوارلس کلن وسله وال جهاد اهداف بايد تشخيص کړي او د ټولو نه اول د ملي پوځ په جوړولو سره ټولې وسلې راټولې کړی شي او په يو ټاکلې ځای کې ډيپو کړی شي چې د سراسري حکومت د جوړولو په وخت کې د ملي دفاع د وزارت په واك کې ورکړی شي. ددې کار د پاره يو سنټرالسرم بکار

دی پدی معنی چی د ملگرو ملتو دسازمان په همکاری د افغانانو څخه یوه اردو جوړه شی، ټول هغه ځوانان چی عمر ئی د شلو او اته ویشتو کلونو تر منځ دی عسکری خدمت ته جلب شي، یوه قانون نامه یا مقرره جوړه شي چی په اوله مرحله کی باید اتیا زره عسکر راټول کړی شی او معاش ئی باید په سملاسی توگه د ملگرو ملتو د سازمان له خوا ورکړی شی.

پوښتنه: څنگه ممکنه ده چی ملی پوځ جوړ شی څکه چی هیڅ تنظیم نه غواړی خپل وسله وال یو تش کالبوت نه بغیر په دغسي حکومت کومه نتیجه مرتبه نه ده.

پوښتنه: اوسني حکومت ته په کومه سترگه گورئ ایا کیدی شی همدغه حکومت په یو مضبوط مرکزی حکومت باندی تبدیل شی؟

جواب: اوسنی حکومت یو متنازع حکومت دی چی د هری خوا نه د حملو او گواښونو سره مخ دی د هیواد په ټول قلمرو باندی حاکمیت نلری او همدغه تنظیمی ځان غوښتنی دی چی دحکومت ټولی چاری په خپل سری توگه د یو سهامی

د نظام د جوړولو د پاره د ملی اردو جوړول د ملا د تیر حیثیت لری او تر ټو پوری چي دغسي گډ پوځ جوړ نشي د نظام د جوړولو د پاره بله یوه نسخه هم کار نه ورکوی.

کسان د لاسه ورکړی او په اجتماعي لحاظ خپل تنظیمی پوزیشن خراب کړی؟

جواب: د نظام د جوړولو د پاره د ملی اردو جوړول د ملا د تیر حیثیت لری او تر څو پوری چي دغسي گډ پوځ جوړ نشي د نظام د جوړولو د پاره بله یوه نسخه هم کار نه ورکوی، مونږ چی کله د مؤقت یا عبوری حکومت د جوړولو خبری کوو معنی ئی داده چی یوه بی طرفه اردو موجوده وی چی د نوی حکومت د قوماندی لاندی په حالاتو کنټرول ولری که نه نو د جمهور رئیس عوض کول خو اسانه خبره ده، د نظامیي اساساتو له مخي بی له اردو هیڅ حکومت نشي چلیدلی او د شرکت حیثیت غوره کړی دی د هری ډلی مشر ځان پاچا گڼی او د ملت د سوکالۍ او ملی مصالحو د تأمین د پاره یو سانتی گذشت ته حاضر نه دی ځکه نو سخته ده چی وونیل شی موجوده حکومت به په همدی تشکیلاتو سره په یو پیاوړی مرکزی حکومت باندی تبدیل شی.

ځکه چی هره ډله په خپله اراده چلیږی او مرکزی واحد سنټرالیزم وجود نلری.

پوښتنه: په اوسنی وخت کي د طالبانو ډله د ټولو نه زیات ددولت په مقابل کی مزاحمت پیدا کوی او عملاً ورسره په جنگ بوخته ده ستاسو په نظر دغه ډله به وکولی شی سراسری سوله ټینگه

کړی؟

جواب: فعلاً خو طالبانو ته خلك نیك وائی که چیری په اولنی منشور باندی په مخ لاړ شی توقعات ورنه کیدی شی خو داسی اطلاعات هم شته دی چی ددی ډلی په لیکو کی هم مضرو عناصرو نفوذ کړی دی او په یوه جنګی ځواك ئی بدله کړی ده که چیری طالبانو په تیز یو کال کی وکولی شو چی ټولی وسلی ټولی کړی د سولی د پاره یو امید تری خامخا کیده خو اوس داسی ښکاری چی د طالبانو ټاکلی منشور هم د سقوط سره مخ شوی دی ځکه نو د ټولو جهادی تنظیمونو په اتحاد باند د افغانستان کشاله ډیره سه او ډیره زر حل کیدی شي.

په هر حال د وسلی انتشار د یو مکروب حثیت غوره کړی دی او تر څو پوری چی ددی مکروب د خنثی کولو غم ونه خوړل شی او خوری وری وسلی راټولی نشي او د غیر مسؤلو کسانو د اوږو نه وسلی راښکته نشي د امن او صلحي ټولی خبری بی فائدي او بابیزه دی.

د بله پلوه ډیره اهمه خبره دا هم ده چی بهر نه په جنګ کی اخته ډلو باندی د وسلو او پوځی اکمالاتو بندول یو بل شرط دی چی د جنګونو د خاتمی د پاره باید عملی شی او که نه نو تر څو چی خارجي مداخلی بندي نشي جنګونه به همداسی جاری وی په دی برخه کی هر هیواد ځانته دلائل لري ایران سره د امریکا د نفوذ ویره ده،پاکستان سره د هند د نژدي کیدو،د ازبکستان تاجکستان سره د بنیاد پرستۍ ویره ده او د افغانستان په موقعیت باند،د سیمی هیوادونو په خپلو کی د سیاسی مسابقي بازار تود کړی دی.

پوښتنه: څنګه کیدی شي د خارجي مداخلو مخه ونیول شی او افغانان د افغاني تفاهم د لاری په خپلو پښو ودریږی او خپلی کرمي په خپله هواری کړی؟

جواب: د خارجي مداخت د بندولو د پاره افغاني هوډ او اسلامي جذبه پکار ده او د ټولو نه غوره لاره داده چی افغانان د ملی وحدت د تامین د پاره خپلی ټولی تربګنۍ او دښمنۍ یوی خواته کړی یو پیاوړی ملی فوځ جوړ کړی ټول سرحدات د واحد ی اداري لاندی په خپل کنټرول کی راوړی خارجي مداخله ګرو ته په تشدد سره جواب ورکړی او ټول جاسوسان و شړی.

پوښتنه: د افغانستان په اوسنۍ لانجه کی ملګرو ملتونه او بهرنیان د زړه له کومی برخه نه اخلی خو د سولی د میشن د چلولو نه هم صرف نظر نکوی دا ولی؟

جواب: دا چی ولی ملګري ملتونه، ګاونډیان او د سیمی هیوادونه نه غواړی په افغانستان کی جنګونه پای ته ورسوی علت ئی دادی چی د ټولو نه مخکی ځینی هیوادونه او کفری طاقتونه نه غواړی په افغانستان کی په جهادی او اسلامي بنسټونو یو اسلامي حکومت جوړ شي بله خبره داده چی همدا اوس په روس کی هم حالات مجهول دی که چیری کمونستان بیا کامیابیږی او په سیاسی ډګر کی میدان ته را ووزی نو د افغانانو د اوسنۍ ګډوډۍ څخه په استفادی سره کولی شی یو ځلی بیا په افغانستان کی د کمونستی ګوډاګی حکومت په جوړولو کی ورنه کار واخستل شی.

خو زما له نظره زمونږ رهبرانو په خپلو اعمالو کی خپله دی ته زمینه برابره کړی ده چی بهرنیان زمونږ په هیواد کي لاس وهنی وکړی او هر یو د خپل خپل منفعت د پاره تخریبي چینلونه په کار واچوی اوس دغه مداخله دومره پخه او ژوره شوی ده چی د ملی وحدت د تامین نه پرته د تشو بیانونو په محکومولو او تقبیح کولو باندی دا مداخلت د منځه نشي تللي.

د کونړ د ولایت خلکو د ولایت د مقام سره په قومي سطحه د پخې همکارۍ ژمنې یو ځل بیا نوې کړې

د پاټکونو د لرې کولو او د ځنګلونو د ساتنې ذمه وارې ئې په غاړه واخیسته

د کونړ سرحدی ولایت چی حکومتی انتظامیه ئی په اسلامی ضوابطو چلیږی د تیری یوی میاشتی راهیسی د حکومت او خلکو تر منځ د یو لړ عملی اصلاحاتو د پاره قومی تحرکات پیل کړ ی دی او د جرگو د ځانګړی مرکه کی څرگند کړ او وی ویل تیره میاشت د جماعت‌الدعوت د یو مشر حاجی روح الله په مشرۍ کی د قوم د مشرانو او نمایندگانو سره د رابطی کولو نه وروسته د اجتماعی او اخلاقی مفاسدو سره د مبارزی د پاره او عملاً د پاټکونو د لری کولو او طبعی ځنگلونو د ساتنی او څارنی ذمه واری قوم په خپله غاړه واخسته.

ده د یو سوال په جواب کی چی په کونړ کی قومی غونډی چیرته جوړی شوی او څه فیصلی ئی وکړی؟ داسی

د همدی قومی جرگو علت و چی د اسمار په ولسوالۍ کی د مشوانو او سالارزو د قومونو تر مینځ یوه ډیره پخوانۍ او خطرناکه لانجه ئی حل کړه داسی لانجه چی دواړو خواؤ د جنگ د پاره وسله وال کمینونه یو بل ته نیولی وو خو د قومی جرگی د لاری ئی دائمی روغه وشوه.

لاری نی د ولایت د مقام سره د همکاریۍ لاسونه ورکړی دی. دغه ټکی د یو قومی مشر مامور عبدالقیوم د دعوت مجلی د خبریال سره په یوه په قومی سطحه یو لړ جرگی پیل شوی چی په نتیجه کی په قومی دستور د کونړ د ولایت د مقام سره د پخی همکاریۍ ژمنی یو ځلی بیا نوی شوی څرگندونی وکړی:

زمونږ لومړی پراخه قومی غونډه د کونړونو د والی محترم قاضی غلام صادق «اخونزاده» په گډون د توپچی

په غنډو کی جوړه شوه په دی غونډه کی والی صاحب په خپلو خبرو کی په صفا ټکو کی څرگنده کړه چی د حکومتی انتظامی په چلولو کی د قومی همکاری نه پرته اصلاحات نه عملی کیږی که چیری له ماسره همکاری کوئ ښه او که نه نو زه د موجوده عهدی څخه استعفی کوم.

مامور قیوم ووئیل په دی وخت کی ټولو قومی مشرانو او د جرگی برخه والو په یو اواز والی ته ډاډ ورکړ چی مونږ دې شاته ولاړ یو او په ټولو اصلاحاتو او د ښیگڼی په چارو کی درسره مرستندویه یو.

ده ووئیل:

په دی جرگه کی د ودیر،گربز، ماموند،مسعود ،صافی او د شینوارو د قومونو باصلاحیته نمایندگان او قومی مشران ناست وو.

په دی جرگه کی د ولایت د مقام سره د چارو په اجراتو کی د همکاری د پاره د هر یو قوم نه جلاجلا خطونه ولیکل شو او وعده ئی وکړه چی د ټولو مفاسدو او ناجایزو کارونو په مخنیوی کی به د اداری سره ولاړ یو.

قومی جرگی فیصله وکړه چی په لارو کی اچول شوی ناجایز پاټکونه به لری کوو د خلکو تر منیځ به دښمنی ختموو او د خیرښیگڼی په چارو کی به په یو غږ او یو مصلحت عمل کوو د ځنگلونو د ساتنی او څارنی د پاره به چی د ټول کونړ ملی او مشترکه شتمنی ده د بی ځایه قطع کولو او خرابیدو مخه نیسو. دغه غونډه په همدی فیصله دلته پای ته ورسیده.

ده ووئیل: زمونږ بله غونډه چی حکومتی اراکین او نمایندگان هم په کی ناست وو د څوکی په ولسوالی کی د مولوی شهزاده په مدرسه کی جوړه شوه چی په هغی کی د هډوال،باډیل، دیوه گل،د مزاردری، پیچ دری، نورگل او نورو سیمو قومی مشران راټول شوی وو په دی غونډه کی هم په یو مصلحت فیصله وشوه چی د پاټکونو او بی امنیتی په له منځه وړلو کی به په یو اتفاق سره عمل کوو.

په دی جرگه کی دا پریکړه هم وشوه چی ټولی هغه ولسوالی چی د ځینو عواملو له کبله غیر فعالی دی په اداری لحاظ بیرته په کارونو شروع وکړی او حکومتی سیستم ئی د پخوا په شان بیا چالان کړی شی.

د مامور عبدالقیوم د وینا له مخی بله دغسی قومی غونډه د خاص کونړ په ولسوالی کی وشوه چی په هغی کی هم په اجنډا کی په شاملو قومی مسئلو ژوری خبری وشوی او فیصله وشوه چی د ټولو ولسوالیو او قومونو نمایندگان دی د ولایت مقام ته معرفی شی چی شوی فیصلی عملی کړی شی.

ده ووئیل: د همدی قومی جرگو برکت وو چی د اسمار په ولسوالی کی د مشوانو او سالارزو د قومونو تر مینځ یوه ډیره پخوانی او خطرناکه لانجه ئی حل کړه، داسی لانجه چی دواړو خواوُ د جنگ د پاره وسله وال کمینونونه یو بل ته نیولی وو خو د قومی جرگی د لاری ئی دائمی روغه وشوه.

مامور عبدالقیوم زیاته کړه په دی جرگو کی دا فیصله هم وشوه چی په راتلونکی نیژدی وخت کی به ځای په ځای د قوم د پیژندل شوو او مطرحو نمایندگانو څخه قومی اصلاحی کمیټی هم جوړیږی او د شوو فیصلو د عملی کیدو نظارت او څارنه به کوی او خپل رپوټ به د ولایت مقام ته سپاری.

د سهوی سجده

ترجمه : أبا عبید

سجده سهوه له دوه سجدو څخه عبارت ده چې لمونځ کوونکی یې باید د لمانځه د خلل او سهوی په صورت کې اداء کړي. د سهوی سجده دری اسباب لري: زیادښت، کمښت او شك.

زیادښت: که لمونځ کوونکی په لمانځه کې قیام، قاعده، رکوع او یا سجده قصداً زیاته کړي لمونځ یې باطلیږي. که دا عمل د نسیان (هیر) په صورت کې تر سره شي او لمونځ کوونکی ته د لمانځه څخه دفراغت په وخت کې یاد شي، سجده سهوه به کوي او لمونځ یې صحیح دی. که د لمونځ په دوران کې ورته یاد شي هم سجده سهوه به کوي لمونځ یې صحیح دی او سجده سهوه پرې واجبه ده.

مثلاً لمونځ کوونی د ماسپښین لمونځ اداء کوي او د څلورو رکعتونو پځای پنځه رکعتونه وکړي او دا زیادښت ورته په تشهد (قاعده) کې یاد شي (نو پدې صورت کې) به تشهد پوره کوي او سلام به گرځوي، بیا به د سهوی سجده کوي او سلام به گرځوی. که چیرې دا زیادښت د سلام له گرځولو وروسته وریاد شي، سجده سهوه به کوي او سلام به گرځوی. که چیرې دا زیادښت ورته د پنځم رکعت په دوران کې ور یاد شي نو په قاعده دې کښیني، تشهد دې ووایي او سلام دې واړوي، بیا دې د سهوی سجده وکړي او سلام دې واړوي.

د لیل: د عبدالله ابن مسعود رضي الله عنه څخه روایت دی چې یو ځل نبي کریم صلی الله علیه وسلم د ماسپښین لمونځ پنځه رکعته وکړ، ورته وویل شول په لمونځ کې زیادښت شوي دی! نو ویې فرمایل: څرنگه؟ ورته وویل شول: تاسي پنځه رکعته اداء کړل. نو دوه سجدې یې وکړې او سلام یې وگرځاوه. او په یو بل روایت کې دی چې پیغمبر ... سمی کړي، مخ یې قبلې ته کړ، دوه سجدې یې وکړې او بیا یې سلام وگرځاوه. (رواه الجماعة)

کمښت: د لمانځه د اتمام نه وړاندې سلام گرځول د لمانځه کمښت دی. که چیرې قصداً دا عمل تر سره شو لمونځ باطل شو. که د نسیان په صورت کې په داسې حال کې چې ډیر وخت پکې نه وی تیر شوی یعني له دري دقیقو په اندازه وي او یا له دې هم لږ وخت، پاتې لمونځ به پوره کوي، سلام به گرځوي، سجده سهوه به کوي او بیابه سلام گرځوي. او که له دې زیات وخت پرې تیر شي له سره به دلمانځه اعاده کوي.

دلیل: د ابي هریرة رضي الله عنه نه روایت دی چې نبي صلی الله علیه وسلم د ماسپښین یا مازدیگر لمونځ اداء کاوه، دوه رکعته یې وکړل او سلام یې وگرځاوه او په سرعت سره د جومات له دروازې څخه ووت، صحابه کرامو وویل: لمونځ کم شو! نبي صلی الله علیه وسلم د جومات لرگی ته تکیه وکړه او په داسې حال کې ودرید لکه چې غصه وي. د صحابه ؤ له جملې نه ورته یو تن وویل: یا رسول الله! هیر دی شول که لمونځ کم شو؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: لمونځ نه دی کم شوی مگر زما نه هیر دی. نورو صحابه کرامو ته یې وفرمایل: ایا دا صحیح وایي؟ هغوی ځواب ورکړ. هوا نو مخکې شو او پاتې لمونځ یې اداء کړ، سلام یې وگرځاوه، دوه سجدې یې وکړې او بیا یې سلام وگرځاوه. (متفق علیه)

که امام د لمانځه له اتمام نه وړاندې سلام وگرځوي او په مقتدیانو کې داسې موجود وي چې د لمونځ څه برخه ترې فوت

شوی وی او د لمونځ د پوره کولو لپاره پورته شي او بیا امام ته یاد شي چې لمونځ نه دی پوره شوی او دلمانځه د پوره کولو پخاطر پورته شي، په دې صورت کې هغه مقتدیان چې لمونځ ترینه فوت شوی ؤ، اختیار لري یا دې خپل لمونځ ته ادامه ورکړي او یا دې بیا د امام د متابعت سره یو ځای شي. د سلام ګرځولو وروسته دې فوت شوي لمونځ پوره کړي او د سهوې سجده دې د سلام له ګرځولو وروسته وکړي. دا غوره دی.

په لمانځه کې د ارکانو کموالی: که لمونځ کوونکی د لمانځه کوم رکن کم اداء کړي که هغه تکبیر تحریمه وي، دا عمل که سهواً وي که قصداً لمونځ یې نه کیږي ځکه لمونځ یې نه دی منعقد شوی او یا کوم بل رکن قصداً یا سهواً پاتې شي لمونځ نه کیږي، یعني که د لمانځه په لومړي رکعت کې تري کوم رکن پاتې شي او په دوهم رکعت کې هغه ځایته ورسیږي کوم چې تري په لومړي رکعت کې پاتې شوی دی نو اول رکعت لغوه او دویم د اول ځای نیسي، که چیري په دوهم رکعت کې هاغه ځای ته نه وي رسیدلي او له دې وړاندې ورياد شي نو لومړي پاتې شوی رکن ته دې واپس شي او هغه دې ادا کړي، په دواړه حالاتو کې دې د سلام له ګرځولو وروسته د سهوې سجده وکړي. د مثال په ډول:

که چیري لمونځ کوونکی د اول رکعت دویمه سجده هیره کړي او ددویم رکعت ددوه ؤ سجدو تر منځ ورياد شي، لومړي رکعت دې لغوه وشمیري او دویم به د لومړي رکعت ځای ونیسي، نور پاتې لمونځ دې پوره کړي، د سهوې سجده دې وکړي او بیادې سلام وګرځوي. بل مثال:

که لمونځ کوونکی د اول رکعت دویمه سجده او جلسه هیره کړه او ددویم رکعت له رکوع څخه د پورته کیدو وروسته ورياد شو، لمونځ ګذار به واپس کیږي، کښیني به او سجده به کوي، د لمونځ د پوره کولو وروسته به سلام اړوي، سجده سهوه به کوي او بیا به سلام ګرځوي.

په لمانځه کې د واجباتو کموالی:

که چیري په قصد سره د لمانځه له واجباتو څخه کوم واجب ترک شي، لمونځ پرې باطلیږي. که چیري هیر شي او پداسې حال کې ورياد شي چې په لمونځ کې د (دغه واجب) له محل څخه نه وي جلا شوی، اداء کوي به یې، څه ورپاندې نشته، که پداسې حال کې ورياد شي چې (په لمانځه) کې له اصل محل څخه تیر شوی وي مګر بل رکن ته نه وي رسیدلی نو بیا به هم ترک شوی واجب ادا کوي، لمونځ به پوره کوي، سلام به ګرځوي، سجده سهوه به کوي او بیا به سلام ګرځوي.

که پداسې حال کې ورياد شي چې بل رکن ته داخل شوی دی نو بیا به یې پریږدي او نه به واپس کیږي او پاتې لمانځه ته به ادامه ورکوي، سجده سهوه به کوي، بیا به سلام ګرځوي مثلاً:

که لمونځ ګذار په دویم رکعت کې ددویمې سجدې څخه له تشهد نه پرته پورته شي او په دغه وخت کې ورياد شي چې تشهدیې هیر کړی دی، واپس به کښیني او تشهد به وایي لمونځ به پوره کوي، سجده سهوه پرې نشته. او که پداسې حال ورياد شي چې قیام یې پوره نه وي شوی، هم لمونځ ګذار به واپس کښیني تشهد به وایي، لمونځ به پوره کوي، له سلام ګرځولو وروسته به سجده سهوه کوي او بیا به سلام ګرځوي. او که پداسې حالت کې ورياد شي چې لمونځ ګذار پوره ودریدلی وي نو بیا به سلام ګرځوي.

دلیل: د عبدالله بن بحینه رضي الله عنه نه روایت دی چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم با جماعت د ماسپښین لمونځ اداء کاوه، د اولنو دوه رکعتونو وروسته یې لومړی قاعده ونه کړه او پاڅیده، تر دې چې لمونځ یې تمام کړ، خلکو د نبي کریم صلی الله علیه وسلم د سلام د ګرځولو انتظار کاوه خو هغه الله اکبر وکړ پداسې حال کې چې دی ناست ؤ، پس د سلام ګرځولو نه وړاندې یې سجده سهوه وکړه او بیا یې سلام و ګرځاوه.

(رواه بخاري)

(ادامه لري)

افغان مشران د مصلحینو غږ ته غوږ نه نیسي اوسني جنګونه هیڅ شرعي او قانوني مجوز نلري.

(مولانا حسن جان)

د پاکستان د صوبه سرحد عالمانو او مخورو په افغانستان کې د جنګونو د ختمولو او یو مستحکم اسلامي حکومت د جوړولو دپاره ښکته پورته ډیری منډې تړې وکړې افغان مشرانو سره مو ډیر ملاقاتونه وکړل عذرونه مو ورته وکړل چې خپل منځي اختلافات یوې خواته کړئ او په ګډه یو مضبوط اسلامي حکومت جوړ کړئ خو هیڅ نتیجه یې ور نکړه.

دغه مطلب د پاکستان د قومي اسمبلي پخواني ممبر شیخ الحدیث مولانا حسن جان ددعوت مجلې د خبریال سره په یوه مرکه کې څرګند او وې ویل:دپاکستان علماء په تیره بیا د سرحد پښتنو عالمانو او مخورو په خپل خپل وخت په افغان لانجه کې د منځګړتوب او د یادوني وړ کردار ادا کړی دی خو څرګنده شوه چې افغان مشران اکثره ئې د ځان غوښتنې په مصیبت ګرفتار دي او سولې ته په اسانه غاړه نه ږدي او د مذاکرې نه ئې مقابله خوښه ده، ده ووئیل همدغه مشرانو په مکه معظمه کې د خپل منځي اتحاد او په ګډه د جهادي حکومت د جوړولو لپاره لوظنامې او قرار دادونه دسخط کړل خو له بده مرغه چې هیڅ عمل ورباندې و نشو او په دغسې مقدسو ځایونو کې د سولې تړونونه ټول مات کړی شول، په دې باندې ټول افغانان ډیر ښه پوهیږي چې جنګ ډیر لوی مصیبت دی اوسني جنګونه خو ئې هیڅ شرعي او قانوني مجوز نلری خو بیا هم لګیا دي مجاهدین او افغانان په خپلو کې یو بل ته د توپ او ټوپك خولې نیولې دي ا ود ځان او ملك د بربادۍ کړنلاره ئې خپله کړې ده.

مولانا حسن جان د یو سوال په جواب کې ووېل افغان جنګونو که د یوې خوا نه ډیر بې ګناه انسانان د مرګ کومې ته وسپارل ډیر پکې شل شوت شول، په اجتماعي او اقتصادي لحاظ ئې ملك ته هم خساره ورسوله او د ټولو نه مهمه خو لا داده چې د افغان مقدس جهاد کارنامو ته ئې هم غټ نقصان

ورساوه. هغه کارنامې چې ټولو اسلامي ملکونو او عالم اسلام وربانډې فخر کاوه او د کفري طاقتونو د پرزولو د پاره ئې افغان جهاد د نورو د پاره د الهام سرچینه بلله.

ده وویل: ما یوه ورځ په کابل کې استاذ رباني ته ووئیل چې ته مشر ئې خیر دی باید هر یو ته بیلا بیل لاړ شي وورسره کینی او په جهادي ژبه مخالفین په دې قانع کړې چې د اسلامي حکومت د جوړولو د پاره جهاد شوی دي او ټول مجاهدین سره پخلا کړې شي خو هغوی هم په دې برخه کې دلایل لرل او دی انعطاف ته ئې خپل چمتو والی څرګند کړ.

ده زیاته کړه مونږ د عالمانو هر وفد چې د مصلحینو په حیث کابل ته تللی دی ټولو مشرانو ته مو همدا نصیحت کړی دی چې جنګ د مسئلې د حل لاره نده ټولو ته مو زولئ غورزولی ده چې خپلو کې سره جوړ شئ او د اسلامي حکومت د جوړولو قابلیت دی په جنګونو او اختلافونو کې مه منحصر کوی خو وروسته وروسته داسې څرګنده شوه چې په ځینو مشرانو کې د کرسۍ شوق او حرص دومره غالب وو چې د صلحې نه ورته د جنګ دوام مفید او ګټور وو ځکه نو زمونږ غږ ته ئې تر اوسه پورې غوږ نه دی ایښی او د پخوا په شان دزیږی او د هرې ورځې په تیریدو د جهاد قدسیت ته صدمه رسوی.

شیخ الحدیث مولانا حسن جان ووئیل که چیرې افغان مشران په حقه سره د حقیقت له مخې دا تشخیص کړی چې څوارلس کاله وسله وال جهاد ئې د څه د پاره کړی دی اول ځان وپیژني او بیا د الله جل جلاله احکامو ته غاړه کیږدی ټولې مسئلې حل کیدلې او جنګونه بندیدلي شي.

متأسفانه چې افغان مشرانو د ملك د سلامتیا او د ملت سوکالۍ د پاره هیڅ پروګرام او میشن نلری هره ډله په بلې باندې د تفوق په فکر کې ده او هره یوه د ملت په سرګوزارونه کوی اود منځګړتوب ټولې لارې یې ډب اچولې دي.

ده زیاته کړه هره ډله په بیلا بیلو لارو روان دی د مخامخ خبرو او افغاني تفاهم قابلیت ئې د لاسه ورکړی دی او دی ته په ټمه ناست دی چې د بهر نه ورته د جوړ جاړې کومه نسخه وارده کړی شي چې دا کار ممکن نه دی تر څو پورې چې افغانان په خپله په خپلو روایتی مذاکرو جوړ نشي نړیوال ئې سولې ته نشي راماتولی.

شیخ الحدیث ووئیل هر افغان مشر په ښکاره دا اقرار کوی چې مونږ خارجیان په پخپلو کې جنګوی خو چې ورته ووئیل شي په خپلو کې متحد شئ او په اسلامي او انساني طریقه خپلې چارې خپله سمبال کړئ او د نورو د مداخلو مخه ونیسئ بیا نو ددې مداخلې د تلك نه د خلاصیدو په چل نه پوهیږی خو په خپلو کې یو بل په ضد د وسلې استعمال ورته د ټولو نه اسانه لاره ښکاره ده.

څومره چې وخت اوړی په همغه اندازه د افغان مشرانو تر منځ اختلافات تشدید کیږی، د پخلاینې چانسونه یې کمیږی او یو د بل په مقابل کې د سازش، تحمل او نرمښت موقع د لاسه ورکوی.

ده وویل: تر څو پورې چې مشران د قرآن او سنتو د حاکمیت د پاره لاسونه ورنکړی او په افغاني سطحه یوی موافقې ته ونه رسیږي، په نړیواله سطحه هیڅ ملك دی ته نه دی حاضر چې په افغانستان کې د جهادي او اسلامي هویت حکومت جوړ شي بلکه په دې لاره کې څومره چې ئې د لاسه وشی ددغسې یو حکومت لارې به بندې کړی لکه چې همدا اوس همدغه حالت عملاً روان دی.

د مالدیپ جزیره د توحید نور غواړی!

ل.م - افسوس

د مالدیپ جزیره د هند په جنوب لویدیځ او د سری لنکا په جنوب اړخ کی واقع ده، د استوا کرښه ددی هیواد د پاسه تیریږی، د مالدیپ هیواد تقریباً ددوه سوه مختلفو جزیرو څخه تشکیل شوی دی. دا له دوه سوه جزیرو متشکل هیواد اته سوه (۸۰۰) کیلو متره اوږدوالی لری. ددی هیواد د اوسیدونکو شمیر دوه لکو ته رسیږی. ددی هیواد خلك اکثره د ماهیانو (کبانو) په ښکار بوخت دي، د خلکو د ژوند انحصار یی په دوه شیانو دی چی هغه یو ښکار کول او بل سیاحت دی. د مالدیپ د خلکو د ښکار طریقه بالکل ساده او ابتدایی ده. ددی هیواد د جمهور رئیس له قوله دی د مالدیپ خلك نه غواړی چی دښکار کولو په طریقو کی یی بدلون او یا پر مخ تللی طریقي رایج شی ځکه د مالدیپ خلك خود اعتماده او د ښکار کولو په ساده طریقو اعتماد لری نو بهتره داده چی دوی خپلی خوښی ته پریښنودل شی.

د سیاحت په باب هم د مالدیپ هیواد نړیوال شهرت لری، د نړۍ له مختلفو هیوادونو څخه هر کال تقریباً (۸۰۰۰۰) اتیا زره سیل کوونکی ددی هیواد لیدنه کوی.

مالدیپ ته د اسلام راتګ:

دی هیواد ته اسلام د هغو عربي سوداګرو پذریعه رسیدلی چی د اتمی او نهمی عیسوی پیړیو په مرور کی د هند لویدیځو جزیرو ته راغلی وو او پدغو سیمو کی آباد شوی وو. ددی نه وړاندی ددی سیمو خلك بت پرست او په شرك کی مبتلا وو.

مؤرخین لیکی چی هغه لومړنی شخص چی ددی جزیرو خلك یی د اسلام دین ته دعوت کړی وو «ابو البرکات یوسف البربری المغربي» ؤ، ابن بطوطه هم په خپله سفر نامه کی ددی شخص یادونه کړی ده.

ددی هیواد د اوسیدونکو د اسلام راوړلو واقعه څه عجیبه ده، د ځینی معتبرو اوثقه خلکو د وینا مطابق چی دلته به هره میاشت د سمندر څخه د شیطان په مشری یوه قافله راتلله، ددی سمندر د ساحل په غاړه یوه خونه اباده وه، د سیمی خلکو به د ښایسته

پیغلو جینکو څخه یوه غوره کړه د ساحل پغاړه خونه کی به یی د شیطان لپاره کیښودله، تر څو شیطان له دغی جینۍ څخه خوشحاله شی چی دسیمی نور وګړی د شیطان له نقصان څخه بچ شی.

کله چی ذکر شوی نیك شخص چی د قرآن مجید حافظ هم ؤ؛ دی سیمی ته راغي خلکو ددی واقعي څخه خبر کړ. نوموړی شخص ورته په ځواب کی وویل چی انشاء الله زه به دغه شیطان له دی ځایه شړلو ته مجبور کړم او پدغه شپه به د پیغلی جینۍ پځای پدی خونه کی زه په خپله کښینم. کله چي د شیطان د قافلی د راتلو وخت راورسید دغه نیك شخص همداسی وکړل او په دغه خونه کی بی د قرآن لوستل پیل کړل. شیطان چی راغي د قرآن د حافظ خواته یی د کښیناستلو جرئت ونه کړ. دغه نیك شخص روغ رمټ او صحیح سلامت له خونی څخه راووت او هیڅ ډول نقصان ورته شیطان ونه رسولی شو. ددی سیمی خلك ډیر زیات خوشحاله شو او ټول ددغه شخص متبع جوړ شول. دغه شخص دوی ته داسلام د قبلولو دعوت ورکړ لومړی ددی جزیری بادشاه په اسلام مشرف شو او وروسته بیا نور وګړی یی مسلمانان شول. (والله اعلم)

د مالدیپ سیاسی حالت:

د ۱۸۸۷ میلادی کال پوری دا هیواد دبرطانویانو په تسلط کی ؤ. د ۱۹٦٥ میلادی کال د جولای د میاشتی په (۲٦) نیټه یی د خپلواکۍ اعلان وکړ او په ۱۹٦۸ کی یو جمهوری ملك جوړ شو.

ددی هیواد موجوده جمهور رئیس «مامون عبدالقیوم» دی چی د مصر د «الأزهر» له پوهنتون څخه یی په فلسفه کی د MA سند تر لاسه کړی دی او له ۱۹۷۸ میلادی را پدیخوا د مالدیپ د جمهور رئیس دنده پغاړه لری.

ددی هیواد سیاسی چاری په سیکولرستی ډول چلیږی اودین په کی له دنیاوی چارو څخه بیل شمیرل کیږی، لدی امله یی حکومتی تخته ډیره مظبوطه او ټینګه ده او ملکی سیاسی حالت یی له ډیرو کلونو راهیسي تسلی بخش دی. په هیواد کی دننه د منکرو او غیر مشروع کارونو په باب څوك د خولی وازولو جرئت هم نشی کولي، که هغه بانکی معاملات وی او یا د شرابو او نشو، بی پردګی او عریانی پکی ورځ په ورځ مخ په وراندی روانه ده.

یو مالدیپی شاعر «حسن شاکر» د مالدیپی فحاشي ټولنی غندنه په یوه عربي قصیده کی نشر کړی وه، د مالدیپ حکومت نوموړی د پنځو میاشتو په بند محکوم کړ. د ګرانو لوستونکو په خیال کی به دا سزا معمولی غوندی محسوسیږی خو څرنګه چی د مالدیپ خلك امن خوښوونکی خلك دی او دوی له سزاؤ سره بالکل نا اشنا دی نو له دی امله دا په مالدیپ کی ډیره لویه او سخته سزا شمیرل کیږی.

ابن بطوطه چی په دی جزیره کی دوه دوه نیم کاله د قاضي په صفت پاتی شوی دی وایی چی ددی جزیری خلك ایماندار، دیانتدار او اهل صلاح خلك دی، ددوي بدنونه کمزوری او د دوی د جنګ او قتال هیڅ یوه واقعه زما په نظر کی نه ده راغلی وایی چی ما یو وار په محکمه کی له غل څخه د لاس پری کولو حکم صادر کړ نو په مجلس کی ناست ډیر خلك ددی حکم په اوریدلو بی هوشه شول.

د مالدیپ د عامو خلکو ژوند بیخي ساده او سوکاله دی، په خپل منځ کی د جنګ جګړو څخه سخت متنفر دی، د غلا غلطۍ واردات پکی شاذ نادر پیښیږی، خلك یی غریب او محتاج ژوند تیروی مګر د سوال لاس چاته نه اوږدوی په ښکار کولو او یا نور محنت خواری کولو باندی متکی

دی، خلك یې عموماً د ښو اخلاقو لرونکي دي له عربي ژبې سره د محبت په وجه یې نومونه اکثره اسلامي وي.

عام خلك یې په «ریفي» ژبه د سنهالی، اوردو او عربي ژبو څخه مرکبه ده خبرې کوي او رسمي ژبه یې انګریزي ده.

له کله نه چې د مالدیپ هیواد ته د اسلام دین رسیدلی دی تر اوسه ددې هیواد خلك په اسلام مشرف دي، زیاتره خلك یې د امام شافعي رحت الله علیه د مذهب پیروان دي مګر یو خطر چې ددې هیواد مسلمانانو ته متوجه دی هغه د موحدو علماؤ فقدان دی، یو څه ناڅه موحد علماء کرام چې په سعودي عربستان، پاکستان او مصر کې یې عالي تحصیلات کړي دي هغه اکثره په دولتي وظیفو ګمارل شوي دي او اکثره یې د حکومت په خوښه څرخیږي.

د ټولو نه لوی جهالت یې بدعت او شرکي اعمال دي، د قبرونو بدعات خصوصاً د «ابوالبرکات» په نوم د نذر ونیاز بدعت پکې ډیر رایج دی، همدا رنګه دمیلاد بدعت هم پکې هره میاشت لمانځل کیږي.

د هیواد د مرکز خلك یې اکثره ددیني کم علمۍ له امله د سیکولریزم د نظریې لرونکي دي او د اسلام نظریه تر جوماتونو محدوده ګڼي مګر د نورو جزیرو خلك یې د ځینو جهالتونو سره سره د اسلام له دین سره محبت لري، لکه څنګه چې مخکې هم یادونه وشوه ددې هیواد په خلکو کې دجهالت اصلي وجه د موحدو علماؤ لږوالی دی.

ددیني علومو د کموالي له امله یوه بله لویه خطره چې ددې هیواد مسلمانانو ته متوجه ده هغه د لویدیځو هیوادونو دسیل کوونکو (سیاحانو) ورتګ دی لکه څنګه چې مخکې وویل شول دمالدیپ جزیره د سیل ګیرۍ لپاره کافي شهرت لري نو ددې هیواد اکثره خلك د خپلې کم علمۍ له امله د غربي تهذیب ښکار کیږي. ددې سره سره د مالدیپ خلك له عربو سره ډیره مینه لري او ددوی خبرې ډیرې خوښوي مګر د عربي نړۍ سیاحان د غربیانو په پرتله هلته ډیر کم ځي.

ددیني تعلیم لپاره په دې هیواد کې څو مختلفې اداري جوړې شوي دي، له دې جملې څخه یې یوه «معهد الدراسات الإسلامیه» ده چې په ۱۴۰۱هـ ق کال کې تعمیر شویدی په دې اداره کې د عربي ژبې او آدب، د قرآن حفظ او د اسلامي احکامو زده کړه ښودل کیږي. ددې اداری تعلیمي نصاب د مصر د ازهر دپوهنتون برابر دی. په دې اداره کې تقریباً دوه سوه هلکان او جینکۍ زده کړه کوي.

المدرسه العربیه الإسلامیه د لومړنیو زده کړو یوه مدرسه ده چې عربي ژبې ته پکې خصوصي توجه ورکړل شویده.

المرکز الإسلامي تقریباً پنځه کاله کیږي چې تأسیس شوی دی. پدې کې یو لوی جومات د «مسجد السلطان محمد تکرفان الأعظم» چې د دې هیواد کوم پخواني بادشاه تیر شوی په نوم تعمیر شوی دی، په دې جومات کې د مالدیپ تر ټولو لوی کتابتون دی، همدا رنګه یو لکچر هال هم دلته موجود دی چې مسلمانانو ته پکې بیانیې ورکول کیږي.

الله تعالی دې هغو نیکو او احساس لرونکو عالمانو او پوهانو ته توفیق ورکړي چې د نړۍ هر داسې ګوټ ته چیرته چې د توحید د عقیدې د رسولو ضرورت وي او د رسولو خدمت یې وکړي او هلته د «امر بالمعروف» او «نهي عن المنکر» دنده په یو مکمل احساس سره تر سره کړي، تر څو د مالدیپ غوندې هیواد د اسلام په خدمت کې یو ښه رول اداء کړي او د اسلام دښمنان ناکام او نامراده شي.

PROPERTY OF ACKU
S524

ارشاد نبوی

بسم الله الرحمن الرحيم

«مَنْ كانَتْ لهُ ثَلاثَ بنَات أو ثَلاثَ أخواتْ او إبنتان او أُختَان فأَحْسَنَ صُحْبَتهنّ واتَقىٰ الله فيهنّ فلهُ الجنَّة»

ترجمه: أبو سعيد خدري وايي چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلي دي: د چا چه دوه يا درې لونه يا خويندې وي او ښه سلوک ورسره وکړي او ددوی حقوق د تقوی په رڼا کې وساتي، نو دده لپاره به جنت وي.

جماعة الدعوة الی القرآن والسنة یو جماعة دی، چه د قرآن او سنت لورته دعوت ورکوی، ټول مسلمانان مکلف دی چه د قرآن او سنت احکام ومنی او په خپل ژوند باندی ئی تطبیق کړي. هغه څوك چه په قرآن او سنت باندی عمل و نه کړی او د خپل ژوند په ټولو ساحو باندی ئی تطبیق نه کړی، هیڅکله ورته مسلمان نشی ویل کیدلی په موجوده حالاتو کی چه مسلم امت د کومو ستونزو او کړاونو سره مخ دی، د دی کومه بله وجه او علت نشته، د دوی رابطه د قرآن او سنت سره ضعیفه شویده.

د شهید شیخ جمیل الرحمن(رحمه الله) له خطباتو څخه